



# ونه
# نداره

اکبر کرگر



# د باران انځور

صدیق الله بدر

Ketabton.com

Downloaded from: www.ketabton.c

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځورونه که هینداره

# محمداکبر کرګر

کال: ۱۳۸۵ل / ۲۰۰۷ع

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: انځورونه که هینداره
لیکوال: محمد اکبر کرګر
د چاپ تیراژ: ۵۰۰ یا ۱۰۰۰
د چاپ کال: ۱۳۸۵ل / ۲۰۰۷م
د چاپ ځای: د چاپخوني نوم، پېښور، پاکستان

ډالی:
ګراني لور ښانګې حنا کرګر ته چې ژوند یې د درد او کړاو سره د مبارزې مفهوم دی.

WWW.SAMSOOR.COM



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ليك پاى

نه، نه، همدى وو. همدى له ما سره په کوټه کې اوسېده. په کوټه قلفي کې وو ..

ـ ته څوک يادوې ؟

ـ همدا چې عسکر يې نوم واخېست.

ـ څوک ؟

ـ سربلند !!

په حيرانۍ مې وپوښته، نو هغه څه شو ؟

ـ د هغه کيسه ډېره اوږده ده. کيسه يې ډېره اوږده ده. ته او س چوپ شه دلته عسکر ګرځي چې خبرې مو وانه وري

عسکر بيا بهر خو واري د سربلند نوم واخېست. تورن صمد د هغه د نوم په اورېدو سر وخوځاوه څه يې ونه ويل.

د حوت د مياشتې وروستۍ جمعه وه. تنکۍ غرمه لګېدلې وه چې د زمانخان کلا د خاورين او د دوړو او خاورو ډک سرک نه په تنګو کوڅو چې سرونه يې د کلي له نسه په يو شان بهر راوتلي ول، په مينځ کوڅه ورننوتم. ښايسته د اوږدې کوڅې له نيمايي نه زيات ورننوتم چې د هغه د کور د مخې دروازې ته ودرېدم. په لويه دروازه کې د يوستوى کوچنۍ کړکۍ پر تمبه چې يو تن په کې په اسانۍ ننوتلی شو د اوسپنې يوه ټوټه د ټک ټک لپاره زوړنده وه. هغې ته مې زور ورکړ. له دننه د پښو اواز واورېدل شو. غږ وشو، درغلم.

هغه راووت. له روغبړ نه وروسته په کوټه کې کښېناستو. بيرته له کوره راووتو او د زمانخان کلا له تنګو کوڅو څخه خاورين او د دوړو ډک سرک ته راووتو. د پسرلي په لګېدو هوا د چا خبره ماته شوې وه. شين اسمان او ځلانده لمر وينځلې هوا ځانګړې اغېز درلود، خو بوږنوونکې فضا د ويرې او ترهې نه ډک ماحول هرڅه پردې کړې ول موږ دواړه له تنګې کوڅې د سرک سوروري غاړې ته راووتو.

موټر ته تم شولو سرک دوړو او ګرد نيولی وو. د ښاريانو ذهني فضا هم داسې تته او ناروښانه وه. کله چې به موټر تېر شو د دوړو يوه اوږده ليکه به يې په ځان پسې راکښله ځينې لاروي ورسره عادت ول، خو ځېنو به بيا دسمال او يا د څادر پيڅکه تر سپږمو نيولې وه. مخ به يې پټ کړی وو چې ګرد او خاورې يې په سپږمو کې داخلې نه شي.

محمد اکبر کرګر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زه د سربلند کیسه کوم. هغه جګ نری زلمی وو. نري بریت یې دمخ د راوتلو بارخوګانو له پاسه د لیکانې د ښکلي خط په څیر بربښېدل. ببر او ښه ببر وېښتان یې پر اوږو پراته ول. د چپه تنې. خت یې په غاړه وو. شمېرلې خبرې یې کولې. په حساب ګړېده. په حالاتو یې خبرې کولې. له مانه یې د خپلې مینې رازونه هم پټ نه ساتل. د ګاونډۍ پېغلې سره یې د خپلې مینې په باب ډېر څه وویل. هر وخت به یې د هغې خبرې کولې، خو دا وار یې ډېر څه وویل. کورنۍ هم راضي (خوشاله) وه چې اوس د چا خبره د هغه پښه بنده کړي. دا وخت هغه خپلې زده کړې پای ته رسولې وې. په راډیو تلویزیون کې یې په کار پیل کړی وو او له خپله کاره هم ډېر خوشاله مالومیده، له خپله کاره او له خپلې مینې.

په خبرو خبرو کې د بس تمځای ته ورنژدې شولو. بیا بیا یې د حالاتو یادونه وکړه. همدومره یې وویل: زموږ ډېر دوستان او ملګري یې بندیان کړل. ډېر لانتي سړی دی. بېرحمه جلاد دی... د وخت واکمن ته یې اشاره وه.

په خبرو کې د بس تمځای ته ورسیدو. غاړه مو سره ورکړه. خدای پامانې مو وکړه. په بس کې یوې څوکۍ ته کښېناستم. هغه ستون شو. له لیرې مې کاته چې یو وار یې بیا شاته وکتل. ببر سر یې د ولو په مینځ کې راستون کړ او بیا یې لاس وخوځاوه. په دې هیله چې ژر به وینو او بیا وینو. ګاډي حرکت وکړ، په دوړو کې ورک شو. ګاډی پنا شو . هغه هم په کوڅه کې ننوت. او بیا مو سره ونه لیدل. زه له څو بسونو د بدلولو ورسته کورته ورسېدم. خو د هغه خبرې او اندېښنې مې همداسې پر سر کې تاوېدلې. ((... دا سپي موږ نه پرېږدي... زموږ پایځو ته خوله رااچوي. موږ ځوروي. بندیانوي او شکنجه... ))

له زمانخان کلا نه تر میرویس میدان پورې په ټوله لاره کې د هغه د مانا داره خبرو سره په سوچونو کې زنګېدم. د هغه خبرو د شپې هم خوب ته پرې نه ښودم. خوب نه راته.

اونۍ. دوه وروسته زه هم زندان ته ولاړم. د زندان فضا ډېره ځوروونکې وه. په زندان کې مو بهر انګړ ته د وتلو اجازه نه درلوده. شپه او ورځ به د زندان په چټل او بوېناک دهلیز کې پراته وو. پنجرې به راپسې تړلې وې. هره جمعه به د بندیانو پایوزان راتلل او په وار به یې د هر چا نوم اخېست. ټول بندیان به خپلو نومونو اخېستلو ته غوږ ول.

څو میاشتې وروسته کوټه قلف دهلیز ته یوړل شوم. هلته په یوه تنګه کوټه کې چې ایله بیله څلور تنه به خوا په خوا سره ځایېدل، پریوتلو. سرباز یو نوم واخېست. سرباز د عادت له مخې دا نوم څو وارې تکرار کړ. سربلند، سربلند !

خو د نامه ځواب چا ونه وایه لکه چې دلته نور سربلند نه وو، لکه چې سربلند هماغه یو کس وو چې اوس نه وو. ځکه چې د نورو سرونه د هغه په څېر جګ نه ول، خو په هر حال دلته نور سربلند نه وو.

محمد اکبر کرګر

انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د نامه په وړاندې څوک پیدا نه شول. اورمرو چې د هغه پایواز به هغه ته جامې هم راوړې وې. دا کار څو څو وارې تکرار شوی وو. د هغه پایواز به څو څو وار ې ناهیلی ستون شوی وو. او په کور کې به یې د هغه بوډۍ مور ته څه ویلي ول؟ د دې تصور کول نو بېله او جلا خبره ده چې څنګه چا کولی شول د هغه زړه خوږې مور ته قناعت ورکړي. ما ته هغه مهال دا ټولې پوښتنې په مخ کې ودرېدې.

ناڅاپه مې له خولې ووتل. دا به هماغه سربلند وي. هماغه زموږ سربلند. هماغه زلمی سربلند. او په زړه کې مې د هغه د لیدو تنده یو وار بیا په غزونو شوه. کوم سربلند ؟ د نوم په اورېدو مې بیا ذهن د زمانخان کلا تنګو کوڅو ته ننوت. د یو ښکلي ځلمي سره په خبرو بوخت شوم. بس ته تم شوم، ودرېدم. بس حرکت وکړ، ما مخ بیا واړاوه. هغه له لیرې مخ را واړاوه. لاس یې وخوځاوه. نه، نه. نه خو بس بېرته شاته راغی او نه خو هغه له تنګو کوڅو بېرته راووت. همداسې په تنګو کوڅو کې د تورتمونو ... او ترګمیو په کوڅو کې.

کوټه قلف زندان ته نوي راغلي افسر تورن صمد وویل: هغه زه پېژنم. زما ملګری وو . له ماسره په دهمزنګ کې په یوه کوټه کې وو. د صدارت په کوټه قلفۍ کې هم یوځای وو. دی هماغه سربلند دی دا چې سرباز (سرتېری) یې ورته نوم واخېست.

اوس یې هم یوه ښبه له ماسره شته. د ډیرو خطرونو سره سره مې له لاسه ورنه کړه ګوندې که ژوندی له زندانه ووځم چې مور ته یې ورو سپارم.
ما د صمد خبره ونیوله ترې ومې پوښتل:
ښه ته د سربلند نوره کیسه وکړه.

هغه زیاته کړه: موږ په یوه کوټه کې وو. یوه ورځ ماښام یې هغه کوټې ته رانںویست. خبرې یې نه شوې کولای. هغه یې ډېر وهلی او ټکولی وو. د بربښنا مزي یې ورته په پښو کې ورکړي ول. په کالیو یې د وینو رټې پرتې وې. زموږ کوټه د خطرناکو بندیانو دکوټې په نوم یادېده. ویل کېدل چې دلته د رژیم پر ضد خطرناک بندیان دي. نو ځکه د رژیم لوړ پوړو پخپله تحقیق (ګروېږنه) کاوه. سربلند یې هم په پوځ کې د کارکولو په تور نیولی وو. په اوله شپه یې د وهلو او بربښنا له امله خبرې نه شوې کولی. ډېر وروسته په خبرو راغی. څو ورځې یې څه شی نه وو خوړلی. نار نهور وو او له دې سره شکنجه شوی هم وو.
ما ترې وپوښتل:
څه یې ترې غوښتل:
صمد وویل: لېست یې ترې غوښت. د افسرانو لېست. همدومره پوه شوم چې هغه او څو تنه نور استادان یې د کودتا په تور بندیان کړي ول چې په پوځ کې کار کوي.
پوښتنه یې ترې کوله: ورونه دې چیرې دي ؟

محمد اکبر کرګر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملگري دې کوم دي ؟ له چا سره روابط (اړيکي) لرې ؟ او د اسې نور ...

په اخيره شپه له وهلو گونگى شوى وو . په ډير کړاو يې په پنسل يو ليک وليکه . پر ما يې ټينگه وکړه چې هرومرو يې د هغه کورته وسپارم . هغه پنسل په گوتو کې نه شو نيولى. گوتې يې پړسېدلې وې، بربښنا يې گوتې پړسولې وې. خو د دې پرزې له راکولو وروسته ورپسې عسکر راننوت. هغه يې په ځنگلو کې ونيو او کش يې کړ. او په زوره يې تور موټر ته پورته کړ. بيا راستون نه شو. ويل کېدل چې مرگ او وژلو ته بنديان له لسو بجو وروسته له کوټو ويستل کېدل او بيرته نه راستنېدل. ما يې ليک وپوښته چې څه شو:

ـ فکر کوم چې ليک به اوس هم له ما سره وي.

صمد له ځايه پورته شو. د کوټې په ديوال کې لوړې کړکۍ ته ودرېد. کړکۍ ته ايله بيله د سړي سر وررسېده. اخوا دې خوا يې وکتل بيرته کښېناست.

وى ويل: څوک نشته. د کاليو غوټه يې را پرانېسته پرتوگ يې ترې راوويست . د پرتوگاښ په غل بازې کې يې گوتې ننه ايستې. يوه کوچنۍ پرزه (ټوټه) يې ترې راوويسته او ماته يې راکړه. ويل يې دا گوره امانت دى. دا ورکه نه کړې. ژر يې بيرته راکړې چې که ازاد (خلاص) شوم بايد د هغه مورته يې وسپارم.

په کوچني ليک کې يې ليکلي ول:

گرانې مورې. او د کور ...

سبا ته د نوي کال لومړۍ ورځ ده تاسې ته مبارکي وايم. ما نن شپه چانواري کوي. زه په دې خبره ښه پوهېږم چې دوى مانه پرېږدي، خو ما داسې څه نه دي کړي چې زه پرې وشرمېږم او پښېمانه شم. ما اصلاً کوم کار نه دى کړى. دوى غوښتل چې له ما او له نورو کسانو د دروغو سند واخلي، خو وايې نخبست. هر څوک په ژوند کې يوه لاره غوره کوي. زه هم ديوې لارې سړى وم. اوس زه د لمر خاته پر لور خوځم. مورې دوعا راته کوه. ملگرې ته مې ډيره مينه. مخ يې د وروستي وار لپاره د دې ليک د تورو په وسيله ښکلوم. پر ما پسې مه خپه کېږئ په جگو سترگو له تاسو سره په خوبونو او خيالونو کې.

د ليک په خلاصېدو سره زما ستونى وپړسېد. صمد د دروازې ښکالو واورېده. کاغذ يې ژر د بالنبت لاندې کړ. عسکر راننوت. او صمد يې هم په توره شپه له کوټې وويست او بيا يې پته ونه لگېده.

۲۰۰۵ کال اپريل ۴

محمد اکبر کرگر

انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپکاوی

د یکه (یله) زار له غرېو روسته سندرغاړي د فضل په نوم خپله مشهوره سندره پیل کړه. خلک سم د واره چوپ او غلي شول. ماشومانو او ځلمو هم خپلې خبرې چپ کړې، خو یو سړی په چابکۍ د دېرې له بر سر کټ څخه راپاڅېد او د سندرغاړي په غوږ کې څه وپسېد. بېرته په چابکۍ په خپل ځای کې کېنېناست.
مجلس او ټنګ ټکور سم له دې پسېدو سره د واره خپله غاړه بدله کړه. بیا چا د فضل نوم وانه خیست. راپاڅیدلی سړی په خپل ځای چوپ او غلی کېنېناست. ټولو خلکو هغه ته کتل د هغه څیرې ته یې کتل. هغه همداسې په خپل ځان کې ننوته، ورکېده او نوره له هغه سره هم د خبرو متره نه وه. سندرغاړی هم ژر په خپل ځای کېنېناست او نور ورسره د چا خبره چې د درېدو وس نه وو.

خدای خبر چې له کته پاڅیدلي سړي هغه ته په غوږ کې څه ویلي ول. ارومرو چې د ګوابښ خبره وه. زیات کلیوال لا د مخه په دې راز پوهېدل. خو له لېرې ځایونو څخه راغلي خلک په دې راز نه پوهېدل، نو ځکه خو مېلمانه او د لېرې ځایونو سیل کوونکي اوتر اوتر ښکارېدل. په ټولو کتونو کې ناستو کسانو یوه بل ته خولې نږدې کړې او ګونګوسي پیدا شول.

د کلي تواچي د چوپ کېدو غږ وکړ. د یوه زاړه استاد هنرمند نه یې غوښتنه وکړه چې یوه چاربیته ووایي. هغه د چاربیتې پرځای د یا ټیک ستا په جبین دې نظم پیل کړ. ټنګ ټکور د مست او یاغي سیند پر سر په یوه لویه او پراخه دېره کې بیا رونق ونیوه.

مجلس او سازونو د کونړ د پشه کال د مهال د مست سیند پر سر په لویه او پراخه دېره کې روان وو. د کښته او پورته درو څخه زیات خلک ورته راټول شوي ول. ډیر خلک ورته راغلي ول. لاندې د دېرې په لمن کې د کونړ مست سیند چې د چا خبره د پشه کال په موسم کې خونکاری کېږي او له خولې ځګونه باسي. د تورې شپې په زړه کې لکه تور ښامار په سینه ښوېیده. څپو یې مستې غرغرې کولې. دېره د لالټینونو او ګیسونو رڼاګانو سپین پړک اړولې وه. د سیند د سر یخ باد به کله هم په دېره راخپور شو او د سندرغاړي له سندرو سره به یې یوځای د ارمونې په پردو کې سر تاو کړ. خو د سیند په اوږده تراړه کې د شپو لامبوزن ټل والا به له ورایه چې لالټینونه به یې د شونټۍ د رڼاګانو په څېر په لاسونو کې نیولي ول د سیند پر ټټر به د دېرې له ځنګه تېرېدل.

محمد اکبر کرګر — انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د ښخوا د پشه کال ګرمۍ د ټنګ ټکور او سندرو اوازونو هرڅه چوپ کړي ول. په دېره کې د کټونو ډېر اوږود کتار جوړ وو. دوه کتاره یو بل ته مخامخ جوړ ول. د ښخوا او اخوا رنګارنګ کټونه پراته ول .کټونه د کلي له هر کور نه راوړل شوي ول. د ځېنو پیاړمې کلکې وې، خو ځینې یې ځولۍ شوي ول او چې څوک به پکې کښېناست، نو سمدم به په ځمکه لګېده. یوازې لویانو د کټ د کښېناستو حق لاره. ماشومان په خاورو کې رغړېدل او یا به د ټغر په پیڅکه او یا به هم په پړندو خارو کې پښې ابلې ناست ول.

خو کله چې به دواده د خاوند د کوم خپلوان یا کومې کورنۍ پسه او یا د حلالولو لپاره څاوري د واده لپاره راووست او دېرې ته به رانژدې شول، نو د ټوپکو او تومانچو اوازونو به درزهار جوړ کړ. ښابسته ډېرې ډزې به یې وکړې. ښه مې په یاد دي چې ډېر کسان په دا ډول ډزو کې وژل شوي او ټپیان شوي ول، خو د واده په سندرو کې د دغه وژل شویو کسانو خو چا هډو نوم هم نه اخېست، بلکې یوازې د ادم خان دُرخانۍ، لیلا مجنون ، رابیا او فتح خان او اوس دا دی د فضل او ښاپېرۍ نوم هم د مینانو په لوی قطار ور زیات شو، خو په دې ساز سندرو کې د نور هېچا په نوم بندیز نه وو ، یوازې او یوازې د فضل په نوم بندیز وو چې دا مهال یې د سندرغاړي په ستوني کې وچ کړ.

*** *** ***

دومره مې په یاد دي چې د لومړني ښوونځي په دویم یا درېیم ټولګي کې وم. لغمانی استاد زموږ بد قاره ښوونکی وو . موږ ټول ترې ویرېدلو هغه مهال موږ په کومه کوټه یا ټولګي کې درس نه لوست، بلکې د شنه اسمان په ورځ به د لوې برجورې کلا په مینځ کې چې د حکومتې رباط په نوم یادېده په لویه چوتره کې ناست وو. څو ټولګي به خوا په خوا ناست ول .د ماشومانو له هر ټولګي نه به د شاتو د مچیو په څېرد سبق بنګاري اورېدل کېدل. له هر ټولګي به یو موزون اواز راپورته کېده، خو څوک به نه پوهېدل چې څوک څه وایي.

زموږ ښوونکی لغمانی استاد به زموږ د ټولګي په مخ کې په غوړېدلي څادر ناست وو . د حاضرۍ او ترقي تعلیم کتابونه به یې په مخ کې ایښي ول. او د هغو د پاسه به یې یوه لنډه خو ډبله د توت لښته هم ایښې وه . کله چې به استاد غږ وکړ، نو اول به مو د هغه تورو سترګیو او بیا به مو د توت پرېړې خو لنډې لښتې ته وکتل، نو ویره به مو په اندامونو خوره شوه.

کله چې به کوم شاګرد په سبق کې بند پاتې شو او یا به یې سبق ښه نه وو زده کړی، نو لایق شاګرد ته به یې امر وکړ چې هغه تنبل په لښته په لاسونو ووهي. زه هم په دغه لښته څو وارې وهل شوی یم. داسې نه چې درس مې نه وو زده، بلکې د ښوونکي امر به مې ښه نه شو ترسره کولی او تنبل (لټ) شاګرد به مې ښه نه شو وهلی. په کرار او ورو ګوزارونه

محمد اکبر کرګر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

به د دې سبب شول چې لغماني استاد به په قهر شو راپا به ځېده او د وهلو د ښوولو په بهانه (پلمه) به يې ماته لښته ونيوه او بيا به يې راته وويل لاس ونيسه ما به لاس ونيوه. د لاس په نيولو به هغه ځو خرپه تير کړل. زه به لولپه شوم او بيا به يې راته وويل داسې وهل کوه.

دا هلته او هغه مهال يوه معموله کيسه وه، د همغه رباط يا لوی کلا عادت وو. د رباط ديوالونو، ونو، پاس چوترې او د کلا په مينځ کې د لښتيو روانو اوبو هم دا کيسه کوله. د وهلو او سپزلو کيسه به يې کوله ځکه چې دا د حکومت مرکز وو. کله چې به چا په کلي کې لړ شان وران کار وکړ او د کلي د ملک سره به يې ښه راشه درشه نه درلوده، يا به يې د حکومت خريداري او بېګار ته غاړه نه ايښوده، نو هغه به د سپاهيانو په زور همدې کلا ته راوستل کېده او د امنيه ساده ظابط ګي او علاقه دار به مجرم کس په سپاهيانو تاړه او داسې به يې واهه چې بيا به يې د چا خبره ښوروا هم نه تېرېده، نو زموږ ښوونځی هم په داسې يوه لويه جابره او ظالمه کلا کې جوړ شوی وو. هلته چې وهل او ټکول دود وو. موږ همهلته سبق ويلو. لغماني استاد به په ډېر خوند درس راکاوه.

*** *** ***

يوه ورځ ټکنده غرمه وه. د حمل (وري) مياشت نيمايي ته ورغلې وه. ونې ښې سمسورې شوې وې. اينځر ونې خو بيخي ډېرې ګڼې شوې وې. هوا توده شوې وه چې موږ د رباط په مينځ کې د تل په څېر کتار ودريدو. سرښوونکي د تل په څېر خپل نصيحتونه وکړل. په لمانځه اوداسه، عبادت، لويانو ته په درناوي، د سپو په جنګ نه اچولو، د ډبرو په نه ګوزارولو يې ټينګار وکړ او له خبرو ورسته يې هر ټولګي موذون قدم پرېښودلو. د هر ټولګي لين (کتار) به تر لوی دروازې چې لس متره دنګه (لوړه) او پنځه متره سورره (پلنه) وه نه وبچارېده. دروازه ډېره دنګه جوړه شوې وه. پر سر يې يوه لويه سراچه وه چې هلته به په ژمي کې د سيمې علاقه دار کښېناستلو. موږ چې به له دغه دروازې ووتلو، نو ځان به مو ازاد احساسولو، خو يوه ورځ په دروازه کې څه بل شان ګنه ګونه جوړه شوه. زموږ ټولګی د دروازې خوا ته ورنږدې شوی وو.

هلته ليرې د علاقه دار د ميز نه لس متره ليرې يو سړی په وينو سره چاکو سره ولاړ وو او په يوه ساه يې چيغې وهلې. سپين تازي سپی هم له سړي سره ولاړ وو. ژبه يې څو لويشتې راويستلې وه. هغه سپين تازي د اوږدې لکۍ او اوږدو غوږونو سپی هم په وينو تک سور وو. سړي په يوه ساه چيغې وهلې. سپی به يې په پښو کې توغليده. ژړل به يې او بيا به يې يو ناڅاپه په هغو مچانو چې په سر او تن يې راټول شوي ول غپ لګاوه (غپ کړل)

سړي لنډه بونډه ونه درلوده. په وينو سور د علاقه دار مخکې ولاړ وو، سترګې يې سرې راوتلې وې. همدا يې ويل هغه ما وژلی دی بل څوک مجرم نه دی. ما غزا وکړه اوس مې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چانواري (چارماري) کړئ . بل ځوک مه نيسې. دا چيغې په يوه ساه ويل کېدلې. د ښوونځي ټول شاګردان ورته د سيل لپاره ولاړ ول لکه چې يو بل ښوونځی او يو بل درس پيل شوی وي. د دې کلي د ژوندانه درس وی، زموږ د کلي د ژوندانه بله مدرسه.

علاقه دار په وينو سور زلمی زغم، ته راوباله. د ننوتلو يې ورته وويل. د کښېناستلو يې ورته وويل، خو زلمی لکه چې په سترګو يې سره پرده راغلې وي. همدا يوه کلمه په خوله اخېستله له چېغو سره به تازي سپي هم د هغه په پښو کې وکړونچېده او بيا به يې د ځان په مچانو غپ کړل. اوږده قوله به يې وويسته او په پښو کې به ورته وتوغلېده. خو په وينو سور سړی لکه سرکاوته (سرکاوتن)، لکه ليونی، لکه جنون اخېستی، بېخوده انسان په سترګو نور څه نه ليدل. د چا خبره په سترګو يې د وينو پرده غوړېدلې وه او له ځانه يې د بنيادم د مستو وينو بوي خاته.

فضل د کوز کلي د يوه ډېر بېوزلي نايي زوی وو، چې کرې ورځ به يې د خلکو په مزدورۍ کې تېروله. هغه په کلي کې د چا خبره چې نه د سر سيورې او نه هم په اسمان کې ستورې درلود. د کلي يوه مالداره سړي ورته يو کوټه ورکړې وه چې هغه پکې شپې ورځې سبا کړې. د فضل پلار ګلو په يوه سترګه ړوند وو. د چا خبره چې ورمېږ يې هډوکي نه درلودل. د سهار د لمر څرک سره به يې بکس څنګ ته وو او د کليوالو هر ډول خدمت ته به يې ملا تړلې وه. لالها نده ژوند يې درلود. په کلي کې يې پوله پټی نه وو.

ګلو چې به د کلي نور هلکان وليدل، نو په زړه کې به يې د خپل زوی لپاره ارمانونو غزونې وکړې. هغه به ډېر ځله فضل دې ته هڅاوه چې ښوونځي ته ولاړ شي. ليک لوست زده کړي، سبق وو ايي او بيا به يې سره له دې چې په خپل کسب او کار شکرونه ويستل، خو د کلي د نورو مالدارو خلکو په ليدو به يې ځان ډېر کوچنی او سپک سپانده احساس کاوه. خو هېڅکله يې دا خبره په خوله نه راوړله، بلکې هر څه يې د تقدير کار باله.
خو فضل هېڅ پلار ته نه پاتې کېده. هغه نه يوازې په ونه جګ نری او ښکلی زلمی وو، له رنګه سپين وو، نريو بريتو يې د مخ په کاسه کې زيب کاوه. په خوي او کرکتر کې هم ياغي او د پلار په څېر مطيع (منونکی) او ايل نه وو چې لږ رابوتکی شو، نو په درېيم ټولګي کې يې ښوونځی پرېښود. هسې خو هم د خپلو ملګرو نه ډېر مشر وو. د هلکانو او همزولو سره به په لوبو، ډېرو غورځولو او نورو مستيو سرمستيو مشغول وو. ورو ورو يې د سندرو سره مينه پيدا شوه. د هغه په اواز کې خاص جادو يې اثر پروت وو چې کله به د غره په تړه يا بر او کوز کڅ کې د يکه زار غږ شو، نو ټولو کليوالو د فضل اواز له لېرې پېژانده. دې کارونو هغه نور هم وهڅولو چې سندرې وو ايي، نو چې کله به په کومه ډېره او يا هوجره کې چا بنډار جوړ کړ، نو فضل به ارومرو چې د دغه مجلس نقل وو، دی به ارومرو حاضر وو. بې له فضله خو بنډار تش وو او چې ټنګ ټکور به پيل شو،

محمد اکبر کرګر　　　　　　　　　　　　انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د هغه د یکه زار غږ ته خو به د کلي نجونې د هوجرې دروازې ته پنډې شوې وې، د فضل د خواږه اواز د اورېدو لپاره به يې خپله ساه هم بنده کړې وه.

ښاپېرۍ همدې اواز «درخانۍ» کړې وه. هغه لا د دولس دیارلسو کالو وه چې د فضل په خواږه غږ لېونۍ وه. هغې هم په کلي کې د ښکلا ثاني او مثال نه درلود. د مور یوازېنۍ نازولې لور وه، خو هغه لا د بده قسمته ان په کوچنیوالي کې د خپل ترور د زوی په نوم شوې وه. د هغې د ترور زوی چې په کلي کې د ډېرو شتو او هستۍ خاوند وو. د ډېرې او هوجرې خاوند وو. د پټو او کڅونو خاوند وو. د قلبو خاوند وو، خو د چا خبره چې په دې هر څه يې د ښاپېرۍ څه ؟ هغه د مینې لېواله وه. مینه چې ړنده وي په نورو هم د ړندو گومان کوي. مینه چې عقل نه پېژني، مینه چې هېڅ نه ویني یوازې مینه ویني. یوازې بله نړۍ، د احساس عاطفي دونیا، نو ځکه خو د ښاپېرۍ مینه د کلي د یو ډېر غریب نایي له زوی د فضل سره د کلي د ټول دود او رواج خلاف کار وو. هغه نایي وو، خو ښاپېرۍ ته پادشاه (پاچا) وو. د هغه مینه ورته د شهزاده وه. مینه له خوار نایي څخه شهزاده جوړوي. مینه چې له غریب نه خانزاده جوړوي، نو ځکه خو فضل د ښاپېرۍ لپاره د کلي پادشاه وو. هغې ټوله دونیا د فضل په سترگو کې لیدله او فضل هم دا شان. نو ځکه خو کله چې به ښاپېرۍ د کلي مخ کې ویالې ته ووتله، نو تر هغې به د ښاپېرۍ منگی نه ډکېده چې فضل به په سپینو کالیو کې د کلي د مخه نه و تېر شوی.

د ښاپیرۍ او فضل مینې اوازو انگازو ټول کلی پر سر اخیستی وو. د هر چا د خولې او د ژبې سر ول. دواړو ښه ځواني درلوده. دواړه د یوه کلي په تنگو کوڅو کې تېروبېر کېدل او دواړو....

خو ښاپېرۍ د خپل ترور زوی نه پوره کړکه لرله. نه يې د ترور د زوی په پټو او قلبو فکر کاوه او نه يې د هوجرو او ډېرو او د کلي د خانۍ او ملکۍ خیال ساته، خو د فضل او ښاپیرۍ مینه همداسې په ظالمانه او بېرحمه چاپېریال کې وده وکړه. پخوالي ته ورسېده، دواړه يې لوی کړل، دواړه يې مشهور او د کلیوالو د ژبې سر کړل. خو مینه توپان شوه سیلۍ شوه، سېلاب شوه او دواړه يې د نیزه وړو په څېر د کونړ په خونکاره سیند لاهو کړل.

*** *** ***

خو دا د پسرلي ورځ څه بل شان ورځ وه. د فضل پلار سهار د وخته د ملا اذان مهال له کوره ووت. فضل هم څانبت او تنکۍ غرمه له کوره ووت. د تل په څېر د کوزې کڅۍ ځمکو ته لاړ. غنم خید شوي ول. د پټو پولې یو گز ببرې ولاړې وې. ښاپېرۍ هلته کښېنته په کوز پټي کې وانبه کول. کله به پورته شوه او کله به هم کښېنته شوه. فضل د ښاپېرۍ پټي ته ورننږدې شو، خو ناڅاپه په فضل د چاکوگانو باران جوړ شو. ناڅاپه دوه تنو هغه راوپرزاوه. په تازي سپي يې وداړه. کالي يې ورته په ځان کې ریښه ریښه کړل او په دې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول يې د شنو غنمو او ببرو واښو د پسرلي د شرنديږ او ډکې ويالې له پاسه ساه ورکړه. د تل لپاره د خپلې مينې او عشق سره له دې دونيا ولاړ. قاتل په منډه د خپل تازي سپي سره ځان حکومت ته ورساوه. کالې يې په وينو سره ول، چيغې يې وهلې- تازي سپي يې هم اوږده غوږونه کښته ځوړند کړې ول. سپي د هغه په پښو کې چنګل او د هغه په شاه باندې په پرتو وينو راټول شويو مچانو به يې غپ کړل. بيا به يې وکوړنچل اوږده قوله به يې وويسته او بيا به يې وسينګل، خو قاتل خپله خبره کوله د يوه سرکاوته او ليوني په څېر.

د حکومت عسکر رادمخه شول. د ښوونځي هلکانو ته يې د تللو لاس وخوځاوه. ټول يې په زوره ليرې کړل. قاتل يې د اوږدو تنبو دننه کړ. بيا يې هلته بويناکې کوټې ته بووت، زولنې يې ورواچولې. پښې او لاسونه يې وتړل او د فضل په وينو د سرو کاليو سره د خپل تازي سپي سره په خپلو چرتونو کې ولاړ.

*** *** ***

سندرغاړی چې په ربړدبدلي اواز په ځمکه ناست وو دا سې مالوميده چې د سر و ښنته يې نبغ ولاړ وي- هغوی چې سندرغاړی پېژانده د هغو د سرونو او تنونو وښنته هم نبغ ولاړ ول- ناستو خلکو ټولو هغه ته کتل. د سندرغاړي پر مخ مړې اوښکې راماتې وی- ژړا يې نه کوله لکه چې د تازي سپي او په وينو د ککړو جامو سړی يې بيا مخې ته ولاړ وي. دا وار بيا هغه پښنه ورته تکرار شوي وي لکه چې ورور يې همدا نن وژل شوی وي. د سندرغاړي په سترګو کې هم دا مهال اوښکې را ټوکيدلې وې. ټوله شاوخوا يې وينه شوې وه. لاندې سيند هم سور لکه د وينو سيند دا سې درواخله. پاس خلک، کټونه هم په وينو سره بربښيدل او د څراغونو رڼا هم په وينو بليدله. ځکه چې ډېر کلونه يې د ورور له مرګه وروسته ډېر کلونه يې يو وار بيا د هغه د قاتل له خولې په غوږ کې اورېدلي ول چې:
ما لس کاله زندان د فضل په وژلو تېر کړ. نوی له زندانه راغلی يم اوس ته زما په ټپ مالګې دوړوې. غواړې چې تا هم د ورور پسې واستوم او بيا هلته لاړ شم. د هغه نوم اخېستل زما سپکاوی دی.

لندن، **۲۵** دسمبر **۲۰۰۵**



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما تربور

زه تاسو ته د خپل تربره په باب کیسه کوم. زما تربور زما د کړاوونو، اند ېښنو، خوښیو، اوخوشالیو جوګه دی. دی څه بل شان موجود دی. که رښتیا راباندې وایاست دا څکه عجیب مخلوق دی چې هېڅ راڅخه نه بیلېږي. هېڅ مې یوازې خپلو سوچونو ته نه پرېږدي. تاسې ته دې مالومه وي چې دی زما خپلوان شریک نه دی او نه خو د وچکالۍ په موسم کې راسره په اوبو لګولو شخړه کوي. دی یوازې راسره په حضر (کور) کې ملګری نه وي، بلکې په سفر کې هم راسره جوخت روان وي، نو څکه خو اوس اړ یم چې د خپل تربره په باب درته د خپل زړه راز دروسپړم.
هره ورځ چې د لوی سړک له تمځای څخه د اوسېدو د کوټې په لور راستنېږم، نو د بوټو او لښتو په مینځ کې قدم رااخلم. کله چې باران اورېدلی وي او یا د سهار پرخه په بوټو پرته وي، نو زما د څنګل په لګېدو سم د واره په بوټو او پاڼو پرتې اوبه په ځمکه پرېوځي. ناڅاپه مې ګنده او خوسا پلاستیکونه ټوټې کاغذونه او د مړو سوري تر سترګو شي چې زموږ د کور په مخکې یې بیل کلي جوړ کړي دي چې د کوترو په څېر پکې مړې هم غومبر وهي.

خو کله چې د کور خیرنې دروازې ته راورسېږم، نو د عادت له مخې مې ان په جیب کې د کور د دروازې کونجي لا له مخه په نښه کړي وي لکه چې اوس زما د ګوتو رګونه او ریښې د دې بویناک کور د دروازې کونجي هم پېژني او له نورو ډېرو کونجیګانو یې بیلوي.

د دروازې په بیرته کېدو سره دپ او خوسا بوي چې د پخلنځي له هره کونجه راپورته کیږي تر سپږمو کېږي. د پخلنځي او د دهلیز بدبوي چې د خوسا پیازو د پخو خوراکونو د خوسا شویو هګیو د بوي سره یوځای شوی دی د سړي پزه او دماغ سیزي. چټل دهلیز چې که له یوې خوا تور زندان رایادوي چې لمر به مې په ورځو ورځو کې پکې نه لیده او د انتظار اوږدې شپې یې بس ډېرې اوږدې سختې او د زغم وړ نه وې، نو له بلې خوا زموږ د کلا د مخامخ وړاندې د ګرد پټي په کونج کې بوساړه رایادوي.

خو دا باید ووایم چې هغه بوساړه ډېره ښه وه څکه دا مهال هغه ما ته د یادونو او خاطرو او د زلمیتوب د رنګینو خاطرو جوګه ده څکه هلته دا ډول بد بوي نه وو. سره له دې چې هلته هم موږکانو ګزمه کوله، خو بیا هم ما ته د رنګینو خاطرو او یادونو محل وو. او چې کله مې د هماغه کوچنیتوب مهال او د بوساړې تصویر ته د ذهن کړکۍ بیرته شي، نو

محمد اکبر کرګر — انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم د واره مې د هماغه تنکي زلمیتوب وختونه چې تازه (نوې) مې شونډه توره شوې وه رایاد شي. هغه مهال به چې کله زموږ د ګاونډي لور د بوسو په راوړلو پسې د بوساړې په لور رهي شوه، نو ما به هم ورو خپلې دوه پښې د خپل هوس پسې راښکلې او د هغې پسې به زه هم د بوساړې په مخ کې شین شوی وم او چې پر ما به یې سترګې ولګېدې، نو سم د واره به یې شیطاني خندا وکړه او په ټوکه به یې راته وویل:

نو لیه بیا دې رامنډه کړه. ما به ورته له واره ځواب ورکړ ما خو دې لاره څارله. ښه شو چې د یو کال غونډې شپه سبا شوه، خو هغې به په وېره او نیولې ځواب وویل:
ته خو نارینه یې ستا بوځی بوځی کېدل به ما رسواکړي. بیا به دواړه بوساړې ته سره ننوتو، ډېر بوس به مو په پنډ کې سره یوځای کړل او بیا به مې په بې توله زور سره د هغې سر ته ورپورته کړل. زما د لاس په لګېدو به یې تونديو وکړه او په منت به یې وویل لکه چې زما د سر او مخ توپیر نه شي کولی او بیا به له بوساړې نه د ګردچاپېر په څارلو ووته.

ښه مې په یاد دي او ما ته د دې یاد تکرار هماغومره خوندور دی چې په تصور (سوچ) کې هم نه راځي. یوه شپه د څوارلسم د سپوږمۍ رڼا پلنه وه. دېرې او هوجرې له مېلمنو ډکې وې چې زه ورسره د کلا په یوه اوچت بام غاړه غړۍ شوم او لکه ترهېدلې مرغۍ زما په غېږ کې راپرېوته.

خو زه چې اوس په همدې چرتونو کې د کوټې دروازې ته ودرېږم او د کالج د مهال وېش پاڼه ووینم. د دروازې په ببرته کېدو سره مې سم دم سترګې د لیک په پاکټ نښتې وي چې کېدای شي کوم نوی احوال رارسېدلی وي، خو هر وخت داسې نه وي ډېره لږه پېښیږي چې پوسته دې کورته راشي.

ان زما له راتګ نه ډېره موده تېره شوې وه چې زړه مې نه کاوه چې د کوټې خړه او خیرنه پرده لیرې کړم. زما په ذهن یوه نااشنا وېره ناسته وه. داسې وېره چې فکر مې کاوه چې له بهر نه ټول خلک ماته ګوري او په لوی سړک د تېرېدونکو موټرو غرهار مې خوري. خو دا وېره له دې ځایه نه، بلکې له ډېر پخوا زما په ذهن او روان ناسته وه. خو زه له دې ناخبره وم چې کله د دې ځای خلک خپلې کوټې ته ورننوځي، نو ټول اغوستي کالي لیرې وغورځوي او په کوټه کې ازاد او بې غلو غشه ګرځي، خو زه بیا هم شرمېدلم د خپل ټټر له وینښتو له خپل لوڅ ځان او خاص ډول له هغه چا شرمېدلم چې هر وخت راته د پیره دار په څېر پر سر ولاړ وي او کله ناکله پر سر خرپ هم راکوي.

خبره د همدې موجود ده دا به تاسې وپیژنئ. دا زما تربور دی چې په نورو ځایو کی خو څه چې ان په کیسه کی هم راسره دی. ده ته زه تربور وایم دا تربور تربور دی. تربور وژل کېږي

محمد اکبر کرگر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم نه او پردی کېږي هم نه. بس نو د يوه داسې موجود په څېر له سرې سره وي چې تر څو ژوندی وي، نو تربور هم ورته پر سر ولاړ وي.

خو زما تربور هم زما په څېر يو شی دی. د هغه عمر له مانه کم دی، خو له ماسره يوځای خو له ما نه لږ وروسته را پيدا شوی دی. او چې کله مې ښی او کين لاس پېژندلی دی، نو له هماغه شېبې يې شونتې راپسې را اخېستې ده او ځوروي مې او زما د ښو او بدو جاج اخلي. خو زه ترې هم د ژوند په ښو او بدو پوه نه شوم.

خو اوس به د خپل تربور خبره همدلته پرېږدم. د خپلې کوټې نکل به درته رادمخه کړم. کوټه هم د دې کور يوه خونه ده. د دې کور په څېر يوه خونه، خو هرڅه پکې شته. که څوک ورته زموږ د کلي د صايب روز کوټنۍ ووايي هم کمه نه ده. خو توپير يې په دې کې دی چې هلته غواګانې هم لنګېدلې او د دونيا شيان به پکې پراته ول. هره کارروايي پکې جاري وه، خو دلته غواګانې نشته او نه هم داسې کورنۍ شته چې درې نسله دې پکې يوځای واوسي يعنې پلار زوی او لمسی. خو په دې کوټه کې يوازې زه يم او رښتيا يا تاسې به وپوښتئ چې صايب روز يې لاڅه دي ؟

صايب روز زموږ د کلي يو کليوال بزګر وو. ما ته به مې پلار ويلې چې هغه ستا تربور دی . زه هغه وخت د تربور په مانا نه پوهېدلم. زموږ له کلا پورې وړاندې يې کوټه وه، خو هغه يوازې په هغه کوټه کې نه اوسېده، بلکې زوی او د هغه کهول هم ورسره وو او په يوه کوټه کې به يې سره بيش باقو کاوه. وروسته يې لمسی هم په هماغه کوټه کې رالوی شو. اوس چې په هرځای کې وي ښاد اواباد دې وي. هغه په لاپو کې وتلی سړی وو. که چېرې د لاپو په سيالۍ کې ورګډ شوی وای، نو هېڅا ترې نه شوه وړای. هغه هم زموږ تربور وو، خو زه د هغه په باب خبرې د دې لپاره نه کوم چې خپله درنه او د هغه سپکه ووايم، بلکې زه د خپل تربور نه سر ټکوم. خو بيا هم له تاسو دې پټه نه وي چې زما کوټه د صايب روز له کوټې توپير لري.

يوه ورځ يې يو ملګري همېشه ګل چې خوله يې هر وخت له خندا ډکه وه او چې هرځل يې وينم ما ته خپل تربور يعنې د اورګاډي په تمځای کې شېردل خان رايادوي چې په دې څو کالو کې چې تر لندنه رارسېدلی دی. اوس د ګلونو په زرګونه ډوله پېژني او همېشه ګل خو پرېږده چې د شېردل خان د هرې غونچې په باب يو داستان لري. او په دومره خوند يې کيسه کوي چې د هزارو يکشب کيسې ورته هېڅ دي . همېشه ګل د خپل تربره د هنرمندۍ ډېره په زړه پورې يادونه کوي او په اروا پوهنه کې د هغه مهارت ستايي.

يوه ورځ يې کيسه کوله چې يوه ورځ مې د هغه په هټۍ ورپېښنه وکړه . شېردل خان د وروتو ځای ته ورننېدې شو په داسې حال کې چې د ګلو غنچه يې په لاس کې وه تيارسۍ.

محمد اکبر کرګر | انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ وو ما وپلټه. هغه وویل ته غلی کښېنه اوس د ایم پي صایب د راتګ وخت دی. هغه په خپل کار کې ډېر ښه مهارت پیدا کړی دی. د هغه د کابل کیسې هم ډېرې په زړه پورې دي. همېشه ګل ویل چې که هر نوی امر به راغی که تر دوه ورځو به نوموړی له کاره لرې شوی نه وو، نو د نوي امر په لیدو به بیا شېردل خان ته چا نه شوای ویلی چې پر مخ دې څو سترګې دي؟

خو کله چې به همېشه ګل زما کوټې ته راننوت، نو د شېردل خان ګلان به یې هېر شول .ارومرو چې زه یې هم پکې د شمندروز لیوني په څېر میندلی وم. همېشه ګل په راننوتو سره سم د واره زما د کوټې په جوړولو پیل وکړ. وی ویل: یو وخت چې زه سرباز (سرتېری) وم زما خورد ظابط صاحب ماته د بسترې د جوړولو ډېر ښه چل راښوولی وو. او بیا یې په کنایې (اشارې) سره وویل: کاشکې ستا دا کتابونه په خپلو مینځو کې سره په اتفاق وایی. او بیا یې زیاته کړه: څومره به ښه وایې چې که په یوځای کې راټول وای او په خپلو کې یې یو سیمینار جوړ کړی وای.

ماورته وویل که سیمینار یې جوړ کړی وای نو څه پرېکړه به یې کړی وای؟ همېشه ګل وویل: ارومرو چې پرېکړه به یې کړی وای چې ټول مال دې په غنیمت یووړل شي او بیا یې زما د لوبې وسیلې ته هم پام شو. په خندا یې وویل: نام خدا دا کوټه نه ده موزیم دی، کتابتون هم دی. د بدمنتون میدان او لوی پخلنځی هم دی.

خو ما د هغه ټولو خبرو ته په خندا سر خوځاوه، خو د شکر ځای په دې کې دی چې هغه لاخبر نه وو چې د دې کور انګړ او شاوخوا د ډېرو څربو مړو کلي هم دي. ډول ډول کوترې، مرغان، چینجي او نور ګڼ حشرات او مېږي هم راځي. او پروسږکال چې شنو مچیو ځاله جوړه کړې وه، زما ګاونډی سوسن جانه یې په شونډو وچیچله، لکه چې د مچی هم زما په څېر د هغې سرې شونډې خوښېدلې. خو زما ګاونډی یاسین خان چې اوس هم د هغې د سرو شونډو او لوڅو پنډیو په یاد راپورته شي، نو د خولې یې اوبه په وښکو راشي.

یاسین خان د خدای عجیب مخلوق دی. دی زما په خوا کوټه کې اوسي فکر کېږي چې په دې دوو کالو کې نوموړي په خپله کوټه کې جارو نه ده وهلې. ټوله کوټه یې له پلاستیکونو او ټوټو څخه ډکه ده. له دروازې څخه د وېده کېدو تر تخت پورې یوه نری لاره ورغلې ده چې که قدمونه په غور وانه خېستل شي، نو ارومرو له نورو شیانو سره د تماس سبب کېږي. کله چې له هغه د اصل ونسب پوښتنه وشي ژر د برېتش پاسپورت له جیبه راباسي، خو د خپل هېواد نوم چاته نه اخلي. دی هم عجیب مخلوق دی هره ورځ مازیګر تر لسو بوتلو پورې بیر پر سر رااړوي. په کور کې په یوه نیکر کې ګرځي. موږ ټول ورته درناوی کوو. ځکه چې هغه د دې فارم مشر دی د کوترو، چینجیو او مږو د



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارم. له تاسو دې پټه نه وي چې زموږ د انګرېزولې مرېې له ده نه ډېرې خوشاله دي.
نوموړې په دې باور دی چې یوه حشره هم باید مړه نه شي ځکه چې هغه د خالق مخلوق دی اوواک یې یوازې له هماغه سره دی. خو دا له موږه پټوي چې وو ایې زه خالق د دې حشراتو د لاربښوونې لپاره ګومارلی یم او د دوې ساتنه او لار ښوونه زما دنده ده .
نوموړې د شپې تر ناوخته موږ خوب ته نه پرېږدي، خو کله چې د ورځې له خوا زموږ د کور په خواکې ګاونډۍ مس (آغلې/پېغلې) ماګې په بلې سر وربښکاره کړي، نو د هغې سپې ورته وغاپي، نودی پرې غږوکړي:
ـ مس ماګې زما تربور (سپی )څنګه دی ؟هو از مای کازن ؟
هغې ورته د خپل سپي د روغتیا ډاډ ورکړ، خوده ورزیاته کړه:
د کاکا زویه کله به مېلې ته ځو ؟
خو له تاسو دې پټه نه وي چې د دې دوه تربرونو ترمینځ هم ښه رقابت لیدل کیږي. د دې دوو تره زامنو ترمینځ هم تربګني شته چې زما او زما د تربور او د همیشه ګل او شېردل خان ترمینځ تربګني یې ګرد هم نه ده . ځکه چې د مس (آغلې/پېغلې) ماګې سره د ده تربور لکه چې کله کله د ده په اعمالو او نشه یې توکو په استعمال (څکونه) په قهر وي او پر ده انتقاد کوي او په غپا کې ورته وایي:
تا زموږ قوم وشرماوه. ارو مرو به ورته وایي چې زموږ غور نېکه چې زما او ستا د پلرونو نیکه وو. په ټول ملک کې یې یو نوم درلود ، د دروندوالي او د اهلیت نوم، نو ځکه خو ټول انګرېزان د هغه د ښه سلوک پر بنسټ د مهاجرو په نسبت د سپو ډېر درناوی کوي او ته چې ډېر بدګوزاره یې، نو له تا یې لکۍ هم غوڅه کړه او دوه پښې یې هم. او لکه څنګه چې د انګرېزانو پردي او غنمرنګه پوټکي لرونکي بد ایسي، نو ته یې هم داسې وګرځولې چې نه خو دې لکۍ شته او نه دې په شاه وړې او بیا ورزیاتوي:
وګوره او له ما یې زده کړه. وګوره چې زما او د نورو سپو څومره قدر دی. په هر پلورنځي کې زموږ د خوراک لپاره بېل ځایونه دي. بیل ډاکتران دي او ان د خوب ځایونه مو پاک وي. خو ته اوس جزایي شوی یې، نو ځکه خو دې له موږ توپیر کړی دی چې نه د زوی خوښ یې او نه د پلار ، نه د مېرمنې او نه د ورور. زموږ اسلافو (پخوانیو ) هېڅا ته خوله نه اچوله څوک یې نه ځورول، خو ته لکه د کابل د زمانخان کلا د کوڅو سپي د هر چا پایڅې ته خوله اچوې او په اخیر کې ورته وایي:
زه هېڅکله د بې لارې سړي سره چې نور بنیادمان ترې په تنګ وي مېلې ته نه ځم. ان په لاره به درسره لاړ نه شم. زه اړ یم چې نور تربوران راټول کړم او تا له خپلې تربګنۍ وباسم.
ارو مرو چې یاسین خان به ورته وایي چې:
بد خُلقي ربښتیا چې ښه کار نه دی. زه هېڅ بدګوزاره نه یم، بلکې دا د بزنس (سوداګرۍ) دونیا ده او نن خو انګرېزانو ټوله دونیا په بزنس (سوداګرۍ) ایله کړې ده او ورزیاتوي چې:
(( بزنس از بزنس کف اف ټي از کف اف ټي )) او بیا ورته په پای کې دلیل راوړي چې زما د انګرېز څربې مرېې خوارې مه بوله دا به اورمرو زما په کار شي. ګوره شنې مچۍ مې

محمد اکبر کرګر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه په کار شوې. سوسن جانې خو ماته د سرو شونډو شربت نه راکاوه. زما په امر يې وچيچله او له شونډو يې ورته نغاره جوړه کړه. دا سې بايد دا نور ادمزاد (خلک) هم زما په قدر وپوهېږي او له دې کوره بايد ورک شي.

خو لنډه دا چې زما د ګاونډي او د هغه د کاکا د زوی کيسه ډېره اوږده ده. د دوی ورځنی ديالوګ (خبرې اترې) نه خلاصېږي. هره اونۍ دوه درې واره يو بل ته غاپي. دی د هغه په ژبه پوهېږي او هغه د ده په ژبه.
خو له تاسو دې پټه نه وي چې ما هم يو د تره زوی درلود، خو دا فکر ونه کړئ چې ګواکې زما تربور هم زما د تره زوی دی. کوم تربور چې زه يادوم هغه زما د تره زوی نه دی چې په جنګونو کې رالوی شو. او د سهار چای به يې هم د پلار له ښېرو سره څښنه. هغه شپون وو او ټول عمر يې په شپنۍ کې تير شوی وو. ښه مې په ياد دي چې کله به د چا څربه مېږه د هغه په رمه کې ورګډه شوه، نوبيا به يې له واره ترې سر غوڅ کړی وو او لړمون به يې ورته اومه خوړلی وو. هغه په همدا سې شان رالوی شوی وو او چې کله د کور وور او اولاد خاوند شو، نو بيا يې د خپلې مېرمنې سره اوقات (خُلق) دومره تريخ شو چې ښځه يې اړه شوه چې سرپوښ ټوپک راواخلي او په وېډو يې پر مغزو وولي.

خو زما تربور کوم چې زما اصلي هدف دی او له هغه سر ټکوم له دې ټولو لالچي دی. دی له ما نه لږ وروسته، خو له ماسره يوځای پيدا شوی دی، خو اوس پر ما راج چلوي. دی پر هرڅه او هرځای کې له ماسره وي او يو کار هم د هغه له اجازې پرته نه شم کولی. دی په ببلابېلو څېروکې رابرسېره کېږي. په خوب کې، په وېښه کې، په لاره کې، په ناسته کې لکه زما د وجود سيوري. دا سيوری ان د وريځو په ورځو کې هم د سيوري په څېر له ماسره غبرګ روان وي. خو کله چې خپلې خوسا او ګندې کوټې ته ورننوځم زما په ځورولو او چېړلو پيل وکړي. هېڅ مې خپلو رنګينو يادونو ته نه پرېږدي او چې کله په کټ کې ستونې ستاغ څملم لا زيات زما په چېړلو او ځورولو پيل وکړي. هغه د کلا د مخې يادونه د زلميتوب مينه، د دنګې کلا پر بام د سپوږمۍ شپه په ټول کرښه راکاږي. سم له واره مې بيل بيل اوازونه تر غوږو شي. د مينې اواز، د ژړا اواز، د قهر او د غوسې اواز او د هغو په اوريدو مې ستونی راوپړسېږي په قهرجن غږ راته ووايي:
- بيا دې څه مور مړه ده چې ستونی دې راډک شو، ولې او څه ته ژاړې؟
ورته وايم:
زه نه ژاړم. خپه هم نه يم، خو حق لرم چې د خپلو يادونو، سوچونو او خيالونو سره يوه شېبه راز ونياز وکړم. دمه جوړه کړم. بيا راته په جګ اواز وايي ښه نو ستونی دې ولې پړسېدلی او ډډ شوی دی؟
خو زه خوله راجوړه کړم چې ځواب ورکړم ورو مې د دروازې اواز تر غوږو شي. د يوه ماشوم اواز اورم په ورو اواز راته وايي:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو پلارجانه ته څنگه يې؟ ناروغه خوبه نه يې؟ په ځان دې پام کوه سپورټ (ورزش) کوه او د سرک په مينځ کې مه تېرېږه چې موټر دې ونه وهي.
زه ورته څه نه شم ويلی. خو خپل همزولي خو له ځانه کشر ته په ډډ اواز وايم دا زما ستونی نه، بلکې زما د يادونو او ارمانونو خوبونو او خيالونو جونگړه ده. کله کله چې هغه ډډ شي، نو بيا د اوبو په څېر لاره کوي.
خو زما تربور ما ته بيا هم ټينگار کوي وايي چې:
دا خبرې هېڅ ارزښت نه لري.
ورته وايم:
عجيبه خبره کوې. زه څنگه خپله هستي هېره کړم؟ خپل تن او ځان هېر کړم. او بيا ورته په تلوار سره وايم زما ډک ستونی زما نمجنې سترگې اوس زما د يادونو او خيالونو سرچينه ده، نه غواړم دغه چينه وچه شي. په همدې ډول مې خپلې خبرې په بيا بيا په ذهن کې انگازې کوي. په وار وار خپلې خبرې اورم هغه نه شم هېرولی.

په همدې ترخ کې چې د خپل تربره سره په شخړه يم. ناڅاپه د ماشومانو شور او زوږ اورم. ژړا، خندا، ټوکې او ټکالې پر يوبل بې مانا او مهمل نومونه ايښودل او د يو بل پېښې کول اورم. خو زما تربور چې کله ما ووينې چې زه له يو بل کشمکش سره مخامخ يم، نو بيا مې ستونی راوپړسېږي. هغه د دې ټول حالت جاج اخلي. ورو څادر راکاږي، اوږې ته يې کړي او له بربښنا جوړ سيوری د ځان پسې راکاږي. زما له کوټې نه د کړکۍ له لارې ووځي. او چې کله مې سم د واره د هغه وتو، بيرون سرک ترلې دروازې، گډې وډې کوټې ته پام شي، نو وينم چې يوازې په خپل ځای کې غځېدلی پروت او هېڅوک نه وي.

لندن، ۷_۸_۲۰۰۰



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دردونه کړاوونه

د تابوت له یوه چاود څخه مې پر باران وهلې نمجنه ځمکه له ورایه سترګې ولګېدې. تورې خاورې ډېرې شوې وې. دوه کسانو چې یوه د تابوت بر سر او بل یې کوز سر نیولی وو ، یوه بل ته وویل:

قبر به یې تیار کړی وي؟

بل یې په ځواب کې وویل: هو قبر تیار دی، ځمکه پسته ده، دا خاوره زموږ د ملک په څېر سخته او ډبرینه نه ده چې کندنه پکې هم سرې له پېنو وغورځوي. قبر تیار دی او بل تن یې ورو په غوږ کې وویل:

ګوره چې په ملا صیب هم ټینګه وکړې چې اوږده سورتونه ونه وایي. یوه لنډکی سوره به بس وي ځکه چې هوا سړېږي او د راغلو کسانو د ځوربدو سبب به شي. او بیا یې ټینګار وکړ: ګوره د بته دې هم پام وي چې د ملا په دوعاوو مړی نه بښل کېږي.

په داسې حال کې چې جنازه هم په درنګ ساعت کې قبر ته رسول کېده، هلته د تورو او پرندو خاورو ډېرۍ له ورایه برېښېده. قبر کښوونکي له ورایه سترې ستومانه برېښېدل. ټول غلي او چوپ ول. یوه قبر کندي بل ته وویل: هاغه ده جنازه یې راوړه. بل وویل: مړی بختور دی چې سر یې په کڅوړه شو او د دې کړاوونو نه بې غمه شو. ورکه دې دونیا شي نه په راتګ ارزي او نه په ژوند کولو. بل ملګري یې توبه وویسته.

ټول غلي او چوپ ول. څو کسه په خپلو مینځو کې سره پسپدل. ډېرې زیاتې خبرې نه وې، خو یوازې ملا په زغرده اواز خبرې کولای شوې او د قبر د جوړولو او تراشلو په باب یې لارښوونې کولې.

زه چې په تابوت کې څه د مړیني ورهم وهلی وم او څه هم د یخنۍ له امله رپېدم حیران وم. پخوا مې اورېدلي ول چې د مړي ډېره یخني کېږي. دا رښتیا خبره وه، رښتیا چې ډېره یخني مې کېده. ژامې مې رچېدلې، لړزېدم، خو کله چې ژوندی وم په دې راز نه پوهېدم. زه یوازې رېږدېدلم . یخني او ساړه یوازې همدا زما برخلیک ول. بل څوک پرې نه پوهېدل. باید پرې پوهېدلی هم نه وای. زه په یوه سپین کفن کې نغښتی وم. ټولو راغلیو کسانو زما پر حال افسوس کاوه. ټول په ښکاره خپه برېښېدل، خو په دې هم پوهېدلم چې دا خواخوږي هم زما د عمر په څېر لنډه او لږ پایښته ده. ژر هېرېږي او کومه ناآشنا او یا کومه غټه خبره هم نه ده او نه هم کوم د غندنې او ستاینې حالت دی. بس مرګ مرګ دی که په حقه وي او که په ناحقه. خو یوشی پکې لکه د لمر څرګند دی چې هرڅوک لکه

محمد اکبر کرګر　　　　　　　　　　　انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنگه چې یوازې راغې همداسې یوازې درومې او زما له یوازېتوب سره خو لا نورې ډېرې کیسې هم را یوځای شویدي.

زه لا په همدې حالت کې وم چې په درنګ ساعت کې څو کسو په ورو او کرارۍ سره زما تابوت د خاورو په ډېرۍ کېښوده. سم د واره نور څو کسان چې ملاوې یې ترلې وې را نږدې شول. د تابوت په بر او کوز سر کې یې څادرونه او پړې واچول او په کښته کولو یې پیل وکړ. ملا یې له ځنډه پوښتنه وکړه. ایا قبر خو به تنګ نه وي؟
یوه ځواب ورکړ. نه ! ښه پراخ دی. تابوت پکې ښه ځایږي.
ملا وویل: ورکښته یې کړئ بسم الله ! مړی د ښځې دی. اوس دې خدای وبښي. نن یې د ګور شپه ده. په یوازې ډول دې نړۍ ته راغلی وو او یوازې ولاړ.
ملا یوه کوچنۍ ډبره راواخیسته. یوه بل ولاړ تن ورته ورکړه ګرد او خاورې یې ترې پوه کړی او بیا یې پوښتنه وکړه. د دې مرحوم یا خدای بښلي نوم څه دی؟

خوا کې یو چا ورته وویل: مساپرخان ! ښه نوم دی مور ټول په دې فاني نړۍ کې مساپر یو. د مور نوم یې څه دی؟ خوا کې سړي ورته وویل: بختی. او وروسته یې د مړي د پیدا ښت کال ولیکه. د مړینې پوښتنه یې هم وکړه، وی ویل: ده کله خپل کلی پرېښی دی؟

یو چا ورته وویل ورم کال. ملا وویل: بس نو د مړینې نیټه به یې هم له هماغې نېټې وکاږو. که خدای یې په هغه دونیا کې له خپلو اقاربو سره لیده کاته وکړي ځکه له کله نه یې چې کلی او چم ګاونډ یې پرېښی دی. مړینه به یې هم له هماغه نېټې وشمیرو. کېدای شي خدای د ده اروا د خپل کلي له مړو سره یوځای کړي او کېدای شي په هغې دونیا کې بیرته هلته ولاړ شي. بیا یې هماغه کال وکېښ او کوچنۍ ډبره یې زما سر ته کېښوده. داسې چې دې ډېرې هم زه لړ څه ځورولم او زما پر سر یې فشار راووړ. بیا یې غږ وکړ دوعا وکړئ چې خدای یې وبښي !

بیا یې تختې په چټکۍ سره تېرې کړې. د تختو ترمینځ چاکونه یې په ختو پټ کړل. نا څاپه یو وار بیا تورتم شو. دا تورتم څو کاله د مخه هم ما لیدلی وو دا هماغه کال وو چې ما خپل کلی کور پرېښودلی وو. هغه مهال ما هم دا ډول تورتم احساس کاوه، خو کله کله به مې د رڼا ځرک ولیده. تیرایستونکی او غولونکی ځرک لکه سراب داسې خو دا وار تورتم ټوله شاوخوا ونیوله. ان تر دې چې سپین کفن هم تور برېښېده. پاس د قبر پر سر دربهار شو. د بېلچو په لاستو یې د قبر پړندې خاورې هوارې کړې وی ټپولې او بیا یې د قبر پر مینځ شنه کېل کېښودل.

محمد اکبر کرګر | انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا هم یوه لنډه سوره ولوسته او له هغه وروسته یې زما دکړو وړو په باب حاضرینو ته وینا وکړه. سملاسي یې ورسره دا خبره هم ورغبرګه کړه چې اوس به له دواړو خواو دې اروابناد ته کړکۍ بیرته شي او هغه به د بلې دونیا له ډېرو شیانو سره اشنا شي.

خو د ملا خبرې لا رواني وې چې یو بد شکله او د ځوکړې ږیرې خاوند له کیڼ لورې د دېوال په کړکۍ کې را ځرګند شو. وی ویل: ښه چارې ! مېلمه لکه چې نوی راغلی یې ؟ ښه شو چې راغلې. دا کور درته د مخه جوړ وو ، ولې دې ناوخته کړ. باید لا د مخه راغلی وای. خو خیر اوس دې هم نوی کور مبارک شه. ډېرې پېښې دې په مخ کې دي. ډېر څه به وویني، له پېښې تېښته نشته.
اول خو وویرېدم. خو د هغه په ځواب کې مې د منلو سر وخوځاوه.
هغه زیاته کړه: ملا صیب ستا په سر پاس پر ځمکه ښه خبره وکړه وګړي (خلک) یوازې زیږي، یوازې ژوند کوي او یوازې مري . یوازې فکر کوي، یوازې انګیري او هر یو ایکې یوازې دی. نرۍ موسکا یې پر شونډو وګرځېده، مخ یې بل خوا ته واړاوه. پاس د قبر پر سر ملا همداسې په خبرو لګیا وو حاضرین په خپلو مینځو کې یو له بله سره وپسېدل. د ملا له خبرو سره یې دومره مینه نه ښودله لکه چې همدا یې یو بل ته ویل: ملا صیب ولې نه بس کوي هسې بېځایه وخت اړوي.

دا ټولې خبرې بېځایه دي. دا خبرې اوس د مړي په درد نه خوري. که هغه ښه سړی وو هم به ورته وښایي او که بد سړی وو ، نو هم به خدای ورسره خپله لار وشړي. خو زه بیا یوازې شوم. یو ځل مې تکل وکړ چې پاځم، غوښتل مې راپورته شم خو سر مې د قبر پر تخته ولګېده بېرته پرېوتم.

زه یوازې وم په رښتیني دونیا وم. نور نه پوهېږم، خو دومره پوهېږم چې زه یوازې یم لکه نور چې یوازې دي. لکه هر یو چې یوازې دی، خو دا نه مني چې یوازې دی. خو زه ځکه د یوازېوالي وایم چې زه اوس پوهیږم چې یوازې یم.

*** *** ***

کله چې ماشوم وم. مورږ ټول به په یوه چرګۍ راټول وو. مورږ ټولو به د پلار سترګو ته کتل چې هغه خوابدی نه وي. مور به مې د نغري بلې غاړې ته ناسته وه. ټول ورونه او خویندې به سره راټول وو. هغه وخت مو هېڅ دې ټکې ته پام نه وو چې هرڅوک به په خپله لاره درومي او هر یو به یوازې او ګوښې وي. او کله چې په دېرو او یا د ژمي په ورځو کې پیټاوو ته ناست وو. ترونه، ورونه، د تره زامن او ټول خپل خپلوان به سره راټول وو. همدغه راز د مورو پلار خپلوانو ، هم له مورږ سره په ناسته کې یو لښکر جوړاوه. هېڅ مو دا فکر نه کاوه چې ګواکې مورږ یوازې یو. خو حقیقت دا وو چې مورږ هر یو یوازې وو. نه دا سمه نه ده، دا چټیات دي هسې بابیزه خبرې دي. خو پر دې لا زمورږ سر نه خلاصېده چې دا یوازېتوب دی. یوازېتوب دوزخ دی. دوزخ بل څه نه دي، په یوازېتوب کې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوزېدل دي، خو دا دی اوس هغوی ټول راځيني هېر شول. ټول پاتې شول، هرچا خپله لاره بيله کړه. څوک ورک شول، څوک سېلابونو يوړل. ځيني نور له توپانونو سره يوځای بوربوکۍ شول اوڅه هم په تورتمو لارو کې ورک شول. لاره يې ورکه کړه له ګړنګونو ولوېدل. په تورو تمونو کې ورک شول ليوانو وخوړل، تری تم شول او اوس دا دی زه هم د دې لارې پرديس او مساپر شوم. پر کلي د جنګ او تاړاک کلونه تېر شول. د ګوليو او باروتو په دندوکار کې هرچا خپله لاره ورکه کړه. هېڅوک يو د بل په لټه کې نه شول. هېچا د يو بل پلټنون کې هڅه ونه کړه. ټول او هر يو جلا جلا پر خپله لاره رهي شول او دا دی ما هم خپله لاره له نورو بيله کړه او دلته راورسېدم.

اوس دا دی ايکې يوازې په دې نوي کور کې مېلمه يم. ملا هم د قبر له پاسه څادر څنډ وهي. دوستان او اشنايان مې هم چارې او بېلچې پر اوږو ږدي او شاه رااړوي. دوی ځي او روانېږي، يوازې مېرمن مې د پښو شناختو ته کښېني او همدومره وايي. زه دې يوازې پرېښودم. ته ولې بې وخته يوازې ولاړې تا خو وعده کړې وه چې...

ما خو درته ويلي ول چې زه يوازې مرم. يوازې، بيخې يوازې. همدومره مې ورته وويل: خو هغې پر قبر اوښکې تويولې او په خپلو اوښکو يې زما د قبر د نامه د غوټۍ کبل خړوبول. بيا مې ناڅاپه د قبر نمجن دېوال ته پام شو. يو بوډا سړی چې د شونتۍ دړه ورسره وه را ښکاره شو. پوښتنه يې وکړه. مېلمه دا ستا نوی کور دی؟

بيا يې د خپل تپوس ځواب پخپله ووايه:
ـ نه نوی نه دی. او س زوړ دی. تا ته لا پخوا جوړ شوی وو. دا ستا پخوانی کور دی اخوا وګوره. ناڅاپي بيا يوه کړکۍ بيرته شوه. په يوې کړکۍ پسې بله او په بلې پسې بله ورو ورو د کړکيو شمېر ډېرېده. هرې کړکۍ يوه جلا او نوې دونيا ښوده . په يوه کړکۍ کې جوتېدله چې:
هلته څو ماشومانو په وستل کې يو بوډا سړی روان کړی وو او په غاړه کې يې ورته څادر اچولی وو. وستل د کلي په مينځ کې غځېدلی وو. له دواړو خواو کورونو څخه نارينه ښځې او ماشومان په بليو را ښکاره شوي ول. نارينه وو چې خپل ځانونه د بليو تر څت پټ کړي ول يو يې هم تر سترګو نه راته. يوه ماشوم چېغه کړه.
جنګ ته دی منصور روان نه توپ او نه تفنګ لري
نه د تورې شرنګ لري نه د زغرو پړک لري...
بيا يې يوه وويل: دی قصاص ته بيايي...
زه حيران شوم او ان د تن مړه وېښتان مې نېغ ودرېدل.
ده نو څه ګناه کړېده ؟
ـ دی بايد اول پانسي (په دار ) کړی شي بيا به وروسته په خپله ګناه پوه شي. دلته رسم او دود بل ډول دی. هېچا ته د سزا له مخه هغه ته دګناه راز نه ويل کېږي، خو ده ګناه کړې

محمد اکبر کرګر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. گناهکار دی، دی یوازې دی. یوازې همدی په مرګ محکوم دی. هغه مرګ ته بیایي، حلالولو ته یې بیایي، قصاص ته یې بیا یې. رڼا په لاس کې بوډا بیا راته برندي وکتل:
ـدا د وېرې خبرې نه دي. هغه انسان دی یوازې انسان دی. انسان ته دوزخ د انسان په تن کې جوړ دی ځکه خو هغه د بل بار په اوږو کړی دی. هغه د بل د اعمالو محکوم دی. یوازې انسان په مرګ محکوم دی. هغه قصاص ته بیایي، قصاص ته او په بیا بیا مې دې شعر په غوږو کې انګازې وکړې.

| | |
|---|---|
| جنګ ته دی منصور روان | نه توپ او نه تفنګ لري |
| نه د زغرو پړک لري | او نه د تورې شرنګ |

دا شعر ورو ورو په ټول وستل کې پلنېده. په بلیو ټولو ماشومانو او ښځو هم زمزمه کاوه، چوپتیا لاسبرې وه. پاس اسمان نه وو، ستورې هم نه ول، هېڅ شی نه وو. عدل نه وو. هېڅ شی نه وو. دا بل نظام وو. یوازې جنګ ته دی منصور روان - نه توپ او نه تفنګ لري زمزمه اورېدل کېده. په ټول وستل کې هره کړکۍ او هره لاره همدې زمزمې نیولې وه ...

هغه راته پېژندوی سرې برېښېده. پر هغه پسې یو بل تن او په بل پسې بل.... هر یو یوازې پر لار روان وو. یوه تن وویل نور هم په لار کې دي، لاره اوږده ده . ډېر کسان وروسته راروان دي. موږ لږ د مخه راغلو. موږ هغوی ته تم نه شو ځکه چې د هرچا لاره بېله وه. هرچا خپله چاره لټوله. موږ هم سر په سیورې کړ او دلته راغلو.

وړاندې یو بل سړی را ښکاره شو. لاسونه یې بونډې ول. پښې یې هم پرې شوې وې. په ځمکه ښوېېده. په وینو کې رغړېده. هغه هم قصاې شوی وو. د ده لاسونه پښې، سترګې او د بدن ټول غړې قصاص شوي ول.

هغه وویل: دا لړۍ ډېره اوږده ده. چینګ داړې چې له کینې کړکۍ خپل سر را ښکاره کړی وو بیا راغی. را نږدې شو، وی ویل: جوپه دې ولیده! دې هر یو یو څوک لرل، خو هېڅوک یې نه درلودل. دوی یوازې ول یوازې نړۍ ته راغلي ول. ته یوازې یې او هر څوک یوازې دی، خو دا خبره ولې د چا عقل نه مني؟ دا ځکه چې منل ورته سخت دي.

هلته وړاندې وستل لوی او خورو-وور کلی، لوی او زوړ ښار، هلته یوه نړۍ یوه دونیا چې له ژویو او وګړو څخه ډکه وه. ټول یو مخ د قصاص لپاره روان ول . ټول په مرګ محکوم ول. ټولو د همدې یعنې مرګ لپاره شپې سبا کړې وې. ټوله یوه عجیبه او نااشنا منظره وه. تر کومه ځایه چې سترګو کار کاوه او ذهن یې په دې قانع کاوه چې دا ژوند یو منظر دی. د ژوند یو انځور دی. د یو عبث او بې مانا هڅې یو تصویر....

محمد اکبر کرګر

انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا په سوچونو کې ډوب شوم. یاد ته مې راغله چې یوه ورځ مې کله چې د نغري پر چرګۍ دا خبره وکړه چې زه یوازې یم، زه له موره یو تن زېږېدلی یم، یو وار زېږېدلی یم. یوازې په خپلو کالیو کې راپورته شوی یم. په خپل نامه را لوی شوی یم. ما چې دا خبرې وکړې، نو ټولو زما پر دلایلو وخندل اووی ویل: ته څنګه ځانته یوازې وایې؟ مشر زوی مې وویل: پلار لکه چې خوب وینې؟ منځوي زوی مې را ټوپ کړ، ولې زه دې په پام کې نه راځم ؟ او بل زوی مې اوږې وارتولې لکه چې پلار مې سودایي شوی دی؟

هغوی دا خبرې نه منلې. اوس به یې هم نه مني ځکه چې هغوی ته یې منل سخت دي او یا خو په دې اړوند د فکر کولو وس نه لري. حال دا چې هم دا د ژوند واقعیت دی چې زه یوازې وم او اوس مړ یم. لا پخوا مړ وم یا لکه چې ارواح مې دا څو کاله له هغو سره وه. نو د دې لپاره چې هغوی د یوازېوالي احساس ونه کړي. کېدای شي هغوی اوس هم دا ونه مني چې زه مړ یم. زه پوهېږم چې زه یوازې او مړ یم.

زه لا په همدې چرتونو کې ډوب وم چې ناڅاپه له ښۍ خوا کړکۍ څخه د لوړ قد سړی چې تیلي څراغ یې په لاس کې وو په هیبتي اواز راته وویل:
پام کوه چې په دې نړۍ کې دې کوم دوه سړی تېر نه باسي. د هغې دونیا خبرې اوس تللې دي. ته یوازې نه یې. ما یې ځواب ورنه کړ: یوازې د هغه خبره مې واورېده. درنګ شېبه په درنو قدمونو لکه د رڼا په څېر لیرې شو. وروسته مې ورپسې وکتل، خو لکه د سیورې په څېر له ما لیرې شو. هغه پخپله یو سیوری وو که څه هم د سیوري لمن ورو ورو ورغونډېده، خو له غږیز انعکاس څخه یې همدا یو شی اورېدل کېده. یوازې یو شی ... خو پخواني سړي د شونډې له رڼا سره بیا را مخامخ شو وی ویل:
دوی به ترڅو پورې خلک تېر باسي، ترڅو به دوی دامونه غوړوي او ترڅو به د خلکو په سترګو کې خاورې شیندي؟

یو وار له ځانه سره په خبرو شوم هغه د شونډې والا لکه زما ځان له ما بهر ولاړ وو لکه زما ارواح چې زما په یوه اړخ کې ولاړه وي او له ما سره شخړه کوي. لکه زما خپل سیوری چې د لمر په رڼا کې ځان ورکوي. داسې چې تت ښکاره شي. رڼا هم د دې لپاره له ځانه سره ګرځوي چې خپل جلاوالی وښايي.

«ما درته د مخه ویلي ول چې ته یوازې یې، ته بل څوک نه لرې. خپله پخپله یې. په هېڅ نړۍ کې، نه په دې دونیا او نه په هغې کې. له تا نه څه نه پاتې کېږي، یوازې یو عذاب درسره پاتې کېږي. هغه عذاب چې ته ورسره مخامخ یې. هغه عذاب چې ته پرې محکوم یې چې باید وی زغمې او وې ګالې کوم چې ته یې وینې، تا وزغمل او یا ته یې زغمې. هغه عذاب او رنځ چې د شېبو په بوده او تنسته کې لکه د اوبو پوکانۍ، لکه د باد



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بربوړه کۍ لکه سیلۍ تیر شو او تېرېږي، خو تلل (وزن) کولی یې نه شي چې څومره درونډ وو ....»

خپلې خبرې اوږدوي وايي: ايا ته اوس پوهېږې چې ته اوس چېرته يې ؟ اروم‌رو له ځانه سره ناخبره يې او داوسني ځای او محل په باب درته څه پته نشته. ته پر يو بې پتې او بې نښې ځای کې پروت يې. تا خپل هويت له لاسه ورکړی دی، داسې لکه د ځمکې پر سر چې دې نه درلود. دلته يې هم نه لرې. نو راځه همدلته پرېوځه او بس ځکه چې بې له هغې هم پر هېڅ بدل شوی يې. ته په داسې تله کې پروت يې چې يوې خوا ته د هېڅ وزن دی او بل خوا ته ته يې، هېڅ او هېڅ مساوي او يو برابر دړی.

خو زه لا په خپل نمجن قبر کې پروت وم چې ډېر خپل خپلوان، قوميان، همزولي او کليوال مې وراسته هډوکي وليدل. يو يو مې پوښتنې ته راتلل. په همداسې شپېو کې مې خپله اروا لکه خپسۍ سپېره رادننه شوه، ژبه يې بنده بنده کېده ... . ويل يې اوس کوروکلي ته ارامي وه. ستا خيرات يې کړی وو. د جمعې شپه يې کړې وه، ډېر کليوال دې د اوسېدو په کور کې راټول شوي ول.

ټولو دوعاوې درته کولې، خو نوره ژړا او انګولا پای ته رسېدلې وه. اوس ارامه ارامي وه. پلار دې هم د راغليو سره ستا لاس نيوه (فاتحه) اخېستله. نېکه دې هم غلی ناست وو، د نېکه نېکه دې هم په يوه کونج کې پروت وو، امسا يې د ېوال ته ولاړه وه. دوعاوې يې درته کولې، ستا فاتحه يې اخېستله. بوډۍ مور دې هم درته جنتونه غوښتل. ستا ټول تېر نېکونه او مشران ستا د دوعا په ټغر ناست ول. هغوی همدومره وويل: «هغه دې خدای وبښي. ښه سړی وو.» د تللو لاره حق ده اوس د تل لپاره ولاړ.

هغوی ټول کتار ناست ول او ټولو ستا د کړو وړو يادونه کوله. د وروستي ځل لپاره يې ستا ياد کاوه. ټولې ارواوې هلته پنډې وې. زه هم هلته د هغوی په مينځ کې تېرېدم را تېرېدم. زه يې نه ليدم، خو دومره يې ويل:
هغه يوازې دې نړۍ ته راغلې وو. يوازې لاړ. يوازې...

د يوازې غږ همداسې له ټول کلي کوره پورته وو . دلته په هديره کې هم پورته وو. او دننه په قبر خو د يوازېوالي نښه ده. همدا غږ له هرې خوا غوږ ته راته ان زما له تنه . د قبر له ديوالونو. په بهر چم او ګاونډ کې په دننه اوږده وستل کې په لاړو کې. له هغه اوږده کتار نه، له هغه ماشومانو نه، له هغو قصاص شويو وګړو نه. له مانه، زما له کفن څخه او له هغه کوچنۍ ډبرې چې ملا پرې په ګوته ليک کړی وو او زما سرته يې ايښې وه. پاس اسمان او لاندې ځمکه کې همدا يو اواز د يوازېتوب بيا بيا په ورو ورو زما اروا د هغه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیوري په ځېر د لمر له وړانګو سره چې د کړکۍ د هېندارو له لارې را ننوتې وه یوځای شو او یوازې یې د یوازېتوب کړاو ته پرېښودم.

هغه لکه زما ساه او زما ځان دا کیسه یې په بیا بیا زما په ذهن کې را ژوندۍ کړه. د خپل برخلیک د ویلو ټینګار یې وکړ. زه یې هماغه ډول یوازې پرېښودم. زما له خنګه ناڅاپي ترۍ تم شو.

همدومره یې وویل: نور زه او ته هم سره جلا یو. خوب یوازې خوب نه وي، بلکې د انسان د وجود نیمه برخه وي. د واقعیتونو انعکاس وي. همدا یې وویل: بیا مې نه شې لیدلای زه درنه لاړم د خدای پامان.

لندن، ۲۰ جون ۲۰۰۴

# د شګو کوټ

دېره لکه اوږده تراره، لکه د یوه ماشوم شلېدلې تنۍ داسې اوږده غځېدلې وه. د دېرې بر سر ته پخوانی زوړ جومات ولاړ وو. د جومات دروازه لا پخوا ماته شوې وه. یوه تمبه ړی یې د دروازې مخې ته ولاړه وه. د جومات د بام ناوه کښته راځوړنده برېښېده. د ناوې لاندې دېوال هم د جړی او بارانونو په وسیله کنده شوی وو. د دېرې بر سر په چنار ښکلې وو. هغه ډېر دنګ چنار وو. دومره چې چا به یې بر سر ته وکتل، نو د چا خبره خولۍ به یې له سره لوېده. د چنار دنګې لښتې له اوچت غره له قد سره سیالي کوله. چنار د دېرې او د کلا د لویي او عظمت ننبه وه، خو اوس یې ډېر چینجن شوی وو او غومبسو پکې ځاله کړې وه.

شیرینه او الماس دواړه تنکي ماشومان ول د اوو اتو کالو به ول. په شګو کې په لوبو اخته ول. د دېرې او زاړه جومات چې خلک به ورته په پاټکو (زینو) ورختل او لمونځ به یې پکې کاوه. د هغه شاته یې د اینځرو ګنې ونې ولاړې وې. اینځرو پاڼې کړې وې، ښې ګڼې پاڼې یې کړې وې. پاڼو یې ډېر ګڼ سیوری جوړ کړی وو. د پاڼو تر مینځ ډېر ښه بوی تر سپږمو کېده. په خلکو کې دا باور وو چې د اینځرو ونې چې تازه پاڼې وکړې، نو ګل هم کوي او دغه ګل هر چا ته ځان نه ښایي، بلکې یوازې د ((برخې خاوندان او لوی کسان)) دغه ګل په سترګو لیدلی شي. خو شیرینه او الماس په دې راز هم نه پوهېدل. هغوی هسې د دې ونو سیوري او په شګو کې خیالي لوبو کولو ته خوښ ول.

محمد اکبر کرګر		انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه ویاله وچه پرته وه، خو له ویالې لاندې شېله یا خوړ په شړک او زوږ سره بهېده. شګې په ویاله کې ډېرې پرتې وې. د ویالې بند سیلاب وړې وو، خو د ماشومانو لوبې څه وي ؟ پړندې شګې به یې ډېرې کړې. دواړه پښې به یې پکې ننه ایستې. بیا به یې شګې په لاسونو ښې ډېرې وټپولې او چې ډاډه به شول چې اوس کلکې شوېدې، نو ورو ورو به یې ترې پښې راوویستلې. او په خوشالۍ به یې چیغې کړې دا دی زما کوټه ودرېده. څومره ټینګه ده، دانه ورانېږي، دا کلکه کوټه ده او شیرینې به هم ورته وویل:
نو چې دا سې ده چې اوبه هم راشي ورانه به نه شي؟
اوبه نه راځي، اوبه دلته څه کوي؟ لیونۍ یې ته لیونۍ یې؟
او هغې به ورته بالمقابل وویل: ته هم لیونی یې، ته هسې اوتې بوتې وایې. او بیا به هغې هم په خپلو پښو شګې واچولې. ښې به یې وټپولې او چې ډاډه به شوه، نو ورو ورو به یې پښې راوویستې. د پښو په راویستو به یې یو دم چیغې کړې. واه زما کوټه هم ودرېده. څومره ټینګه ده؟ دانه ورانېږي. دا کلکه درېږي. دا زما کور دی، دا زما جونګړه ده او دا زما ... .

د شګو کوټنۍ د هغوی د خیالونو او سوچونو دونیا وه. دا کار او دا ډول لوبې دوې هر وخت تکرارولې. هره ورځ به دوې لوبې کولې. دوی به کوټې جوړولې، لکه د واقعي ژوندانه په سوچونو به یې جوړولې.

هو دوې ماشومان ول. په ماشومتوب کې دوی د پاخه او تېر عمر لپاره تصورات (سوچونه) درلودل. عبث تصورات (سوچونه) د ابدیت تصورات (سوچونه) چې هېڅکله ځای نه نیسي.

د پشه کال په ګرمۍ کې توده برو راوالوته. شیرینه د لوبو پر مهال خوب یوړه د سوکړک چنډه (کتره) یې له لاسه ولوېده. پښې یې هماغه شان په شګو کې پاتې شوې، خو الماس د اسمان له نادودو نا خبره وو. هغه یوازې خپل حرص او د خپلو ماڼیو تلوسې پر مخه اخیستی وو. په بې بارانه اسمان کې په وچ او د کمو اوبو پر خوړ په درنګ ساعت کې زورور خړ سېلاب راووت او تر هغه چې الماس سترګې اړولې او د منډې لپاره یې ځان تیاراوه د سوچونو له ماڼیو سره اوبو لاندې کړل او بیا یې مړي په چړونو کې هم ونه میندل شول.

لندن، ۲۰۰۵ کال د اپریل ۳ نېټه

محمد اکبر کرګر — انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه سیوري په نوم چې یوازېتوب ته مې نه پرېږدي

# انځورونه که هینداره

لا مې د ټولې ورځې د ستړیا له لاسه سترګې نه وې ورغلې، په درنګ شپېو کې د لنډ عمر ټوله تنسته راټوله او بیا خوره شوه. شپه تر نیمایي اوښتې وه، سکوت او چوپتیا پر هر څه لاسبرې وه. ما یوازې د خپل زړه درزا اورېده، احساس مې کاوه چې زما د تورتمې کوټې دروازه بېرته شوه بې له اجازې او ټک ټک بېرته شوه. زه وېښ نه وم، وېده هم نه وم. په یو بل شان حالت کې د خوب او بیدارۍ ترمینځ حالت کې، د خوب خپسکه مې په ستوني ناسته وه. هرڅومره چې ښپې خوځوم نه یې شم خوځولی، ټول تن لاسونه او پښې مې په زنځیرونو تړلي دي. زړه مې تنګي کوي. ساه مې بنده بنده کېږي، خو د دې وس نه لرم چې ځان وخوځوم، ژبه مې ګونګه ده. په تته او بنده ژبه هېڅ نه شم ویلی، هم د رازونو د ساتلو وېره او هم د ذهن د پېټي د سپکولو ستونزه د واړه مې په مرۍ زور اچوي.

کوټه تیاره او تورتمه ده، شمه لا له مخه مړه ده، تنګه او تورتمه کوټه چې هرې خوا ته پکې کاغذونه او کتابونه دلۍ پراته دي. د دې دونیا پر سر یوه قبر ته ورته ده. یوازې د کوټې د پنډې پردې له ترازۍ د لندن د بې باوره اسمان د سپوږمۍ رڼا په کوټه کې لاره کړې، او په دې ډول یې د کوټې د تورتم زړه چولی وو. شپه له پخوالي تېره وه، خو په دې حالت کې مې انګېرله. فکر کوم چې یو بنیادم یا د هغه سیوری یا د هغه روح په یوه ماشومه څېره کې له اجازې پرته کوټې ته راننوځي. ورو مې د کټ پښو ته درېږي. زما د ترلو پښو غټه ګوته یعنې له کومه ځایه چې ساه اول په وتلو پیل کوي نیسي او ټینګار کوي:

راته وایې – څو واري مې درته ویلي ول چې ما ته د لوبو یوه ګوډۍ (نانځکه) جوړه کړه، جوړه دې نه کړه نه. دوه نانځکې (ګوډۍ) مې درته ویلې وې، خو تا ما ته هېڅ جوړې نه کړې. ما پرې لوبې کولې، ما په بخملي ټوټو کنبنولې، خو تا دا کار ونه کړ. ما داسې ګوډۍ (نانځکې) غوښتلې چې واده یې ورته وکړم او نور ماشومان یې هم سیل وکړي، خو تا هسې سر وخوځاوه او جوړې دې نه کړې. اوس زما د نانځکو ټوکرۍ تشه پاتې ده او زما د نانځکو (ګوډیو) خیالي کور هم تالاوالا دی. ټوکرۍ یې هم تشه پاتې ده، اوس نه پوهېږم چې چېرته ده اوس لا درکه ده....

خو په بنده ژبه مې ورته همدومره وویل:

د نانځکو (ګوډیو) جوړول ګناه ده، زه یې د جوړولو په چل هم نه پوهېږم. نه پوهېږم څنګه جوړېږي. خیر دی اوس د نانځکو (ګوډیو) جوړولو وخت نه دی، بیا یې په ټینګار د



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښې له غټې ګوتې له کومه ځایه چې ساه له هماغه ځایه د وتلو حرکت پیل کوي و نیولم، راته وویل:
خیر چې داسې ده، نو ما ته انځور و کاږه یو ښکلی انځور، ورته مې وویل:
ایا ستا انځور و کاږم؟
د حیا پرده یې پرمخ خوره شوه، وې ویل: نه، نه...
خو یو انځور، ورته مې وویل:
ګوره یو خو زه انځورګر نه یم او بل دا چې ستا له ښکلا نه انځورونه، قلمونه او هرڅه عاجزه دي. کاشکې زما په ګوتو کې داسې متره وایې چې دا کار مې کړی وای. له بده مرغه چې نه یې شم انځورولی ځکه چې زه انځورګر نه یم.
- «زه پوهېږم ته ښه انځورګر یې. زما انځور کښنلی شې خو نه یې باسې»
- باور وکړه زه ستا انځور نه شم کښلی. زه ستا د انځور له کښلو ډېر عاجزه او ډېر بېوسه یم.
بیا یې زما د تړلو پښو غټه ګوته وخوځوله ژر کوه زما انځور وباسه. ما ته یې همدا نن وکښه ځکه چې زما ورته ډېر ځله ده. ډېره تنده مې ده. دا به ما ته همدا نن رسموې ما ته به یو ثبوت وي. زه یې دې ټول عالم ته ښایم. ټول چم ګاونډ ته او ټولو خپلو پردیو ته یې ښایم. او دا ورته وایم چې دا زما انځور دی چې زما انځورګر ما ته کښلی دی.

زه د هغې د ماشومتوب ټینګار د هغې د روح او سیوري سره خبرو نور هم پر سر واخېستم، نور هم را ته ځان عاجزه او بېوسه ښکاره شو لکه د یو بندي په څېر، لکه په پنجره کې د یوه مرغه په څېر چې یوازې د لیدو سترګې اړوي رااړوي. او په هرڅه کې ازاد الوتلویني، خو په خپل بېوسه ځان یې افسوس راځي. ورته مې وویل:

ته باید وپوهېږې چې زه د انځورګرانو په پل دروමم. ښه انځورګر نه یم او د واقعي او رښتیني ښکلا انځور نه شم کښلی. زه د روح او ستا انځور چې په سترګو لیدل کېدای نه شي نه یې شم کښلی. زه څنګه کولی شم په نیمایي ادراک سره د یوه بشپړ تن د یوه روح او جسم انځور وباسم او هغه هم ښکلی انځور کړم. په داسې حال کې چې د هغې خپله ښکلا ډېره اوچته ده، خو هغې په همدې ټینګار کاوه.
- «داسې یو ماشوم وکاږه چې اوښکې یې په اننګو راروانې وي. د ماشوم غټې ښکلې سترګې او ګرد ښکلی مخ وي او ژړا یې په اننګو لارې کړې وي. په ژړا یې ورو ورو سترګې کوچنۍ کېږي. یو څه ته ګوري داسې څه ګوري چې یوازې خپله یېویني او د زړه په سترګو یې ویني. کله لمر ته کله د ستورو ډک اسمان ته ګوري او کله هم د پراخو سمندرونو په څپو کښېنه پورته کېږي او هرڅه ته چې ګوري هلته یو څه ورک لټوي داسې چې بوي احساس او مینه یې د خپل تن په وینو او خولو کې هم احساسوي»

محمد اکبر کرګر　　　　　　　　　　انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ خو زه د دې ټولو خبرو په وړاندې ډېر بېوسه يم، داسې چې هرڅه ته ګورم، خو د اظهار وس يې راسره نشته. خو هغه سيوری بيا هم ما له غټې ګوتې نيسي او د انځور د کښلو غوښتنه کوي.

له ځانه سره ورو په کټ کې اوړم، لاسونه او پښې مې کلکې تړلي احساسول، په سترګو مې توره پرده وه، له ځانه سره مې وويل:
لکه چې دا زما خپل روح دی. اوس زما له تنه الوتی دی او غواړي چې له ما او زما له تنه کسات اخلي، خو هغه راته په ټينګار وايي:
ګوره دا دی درواخله. د مېز له سره کاغذ او پنسل رااخلي او وايي: د ټوټو نانځکه (ګوډۍ) خو دې راته جوړه نه کړه. د نانځکو (ګوډيو) جونګړه دې راته په لغته ووهله وېجاړه دې کړه، خو اوس ما ته يو انځور وکاږه. په همدې کاغذ او پنسل يې وکښه ...
ورته وايم:
څنګه يې وکاږم؟
يوه ناوې رسم کړه، يوه ماشومه ناوې چې لاسونه يې په نکريزو سره وي او له هغې سره يوځای مينه احساس او رښتينواله هم وکښه. داسې انځور چې هم د عطرو بوي ولري او هم د ناويتوب احساس او عاطفه.
ـ درته ومې ويل چې زه له دې خبرو اوس بېوسه يم. زه په ښوونځي کې هم په رسم کې بېوسه شاګرد وم. ما نه شوای کولی چې رسم وکاږم، خو زه ستا سيوری ستا روح ... زه درسره مرسته کوم ته پيل وکړه. ورته وايم ښه نو څوک او څنګه انځور؟ احساس او مينه له انځورونو ډېره اوچته ده. د دې لپاره خو تر اوسه د هنر پرښتو کوم رنګونه نه دي پيدا کړي.
ـ نو چې داسې وي او د ناوې د ښکلا په نکريزو سره لاسونه د لونګو ځوندي د هغې سرې شونډې ښکلې سترګې نه شي کښلی، نو بيا يوه مور انځور کړه. يوه داسې مور چې د ختو لويه ټوکرې يې پر سر وي دربيم پوړ ته يې خېژوي. هلته د کوټې بام اخېروي چې د سپرلي بارانونه او توپانونه يې کوټه راونه څڅوي. په کټ کې مې پښې وغوځولې له ځانه سره مې وويل:
شيطانه کور دې وران شه! هغې ورو ځواب راکړ:
چېرته چې رښتينې مينه احساس او صداقت وي هلته شيطان له شرمه هم نه ورځي. هلته چې زه بيدار يم ستا د روح شيطاني برخه په سترګو نه ښکاري. اوس زه يم، زه د دروازې له لارې نه يم راغلی. زه د پردې د ترازې له لارې د سپوږمۍ له رڼا سره راننوتم او د انځور پسې راغلم چې نن به ما ته انځور کاږې. زه خبره يم چې تا د نورو انځورونه کښلي دي، خو زما دې تر اوسه نه دی کښلی. بيا ورته وايم:
نو زه څنګه انځور وکاږم؟ ته يې راته وښايه!
ـ خير چې داسې ده د يوې داسې نجلۍ انځور وکاږه چې پښې ابلې په يخو واورو کې د خپل راتلونکي په لور منزل کوي، خو ګوره چې د هغې مينه او ښکلا هم انځور کړې. او



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا داسې څوک چې د سرپو په نینو لوڅې پښې ږدي او ترخه لوګي یې دماغ سیزي، خو خپله لاره لنډوي او د چا پروا نه ساتي.

خبره ورغبرګه وم: زه به سپینې واورې وکاږم. د سرپو نیني به هم رسمې کړم. د لوګو دندوکار به هم وکښم، خو ته باید وپوهېږې چې ښکلا مینه او صداقت په دې تورو قلمونو نه شي کښل کېدای ځکه چې د قلمونو رنګونه تور شنه او سره دي. مینه رنګ نه لري ښکلا له رنګونو اوچته ده احساس او عاطفه خو لا څه کوې.... .
ـ نو یو انځور باید اړومرو وکاږې، ځکه چې زه باید دا رسم له ځانه سره ستا د ننګې په توګه ولرم. بې ځوابه پاتې شوم.

بیا یې راته وویل: ولې غلی شوې؟ خبره واوره ! که ته له دې ټولو عاجزه یې، نو د خپلې مور انځور دې وباسه د هغې مینه انځور کړه، د هغې د پیو خوند رسم کړه. د هغې مینه او احساس انځور کړه او د هغې د مینې کور انځور کړه. بس دا به د هرڅه لپاره ښه مثال وي.
بیا مې خوله راجوړه کړه او ورته مې ویل:
څو واری مې درته وویل چې: زما پښې تړلې دي، زه بندي یم. زما په ستوني خپسه ناسته ده، زندی کوي مې. زما لاسونه تړلي دي. ټول تن او ځان مې په تېرو سیمونو باندې تړلی دی. په پښو کې مې هتکړۍ (ځولنې) پرتې دي. زه د ازادۍ او اختیار بندي یم. د مدنیت مساپر او لاروی یم.... .

زه اوس له بده مرغه له دغه ډول انځورونو له کښلو عاجزه یم. ته باید وپوهېږې چې مینه احساس او د مینې بوي خوند او لذت د انځورونو کار نه دی او نه خو انځور د دې جوګه کېدای شي چې زموږ د ننني دونیا هینداره شي. خو زه اړ یم چې تا ته داسې سوغات درکړم چې په هغه کې ستا ټولې پوښتنې حل شي.

زما په خبره لږه حیرانه او اوتره شوه ویې پوښتل هغه نو څه دي؟
مه وارخطا کېږه ! هغه داسې ډېر د حیرانۍ شی نه دی، خو کولی شې چې د وختونو په اوږدو کې ستا ټولې پوښتنې ځواب کړي او د زړه سوبه دې پرې وشي. په هغې کې یو څه رازونه دي او بیا مې ورو په ختو (ټوټو) کې تاو کړي. هینداره یې د بالښت له لاندې راوویستله. ورو مې ورکړه واخله. اوس د انځور پرځای داواخله. په دې کې ټول انځورونه شته. هغې په بې پروایي سره واړوله وی ویل: په دې به څه وکړم؟
ـ دا زما د مور د لاس ننبه ده هغې ډېره پخوا ما ته راکړې وه ما ته یې ویلي ول:
زما د لاس دا ننبه وساته چې اړ نه وې چا ته یې مه ورکوه. هېچا ته یې مه ورکوه. وګوره په دې کې هرڅه ښکاري، هغه ورته ځیر شوه. په هینداره کې یې د ځوانۍ او پېغلتوب مستي او ښکلا د ژوندانه د پېښو داستان د ناوې او هلک د لومړیو غلچکیو لیدو



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځور د زړونو درزا د ښکلا رنګونه د مينې او احساس انعکاس او هرڅه موجود ول.
ورته ومې ويل:
په دې هنداره کې ښه ځير شه، زړه پکې ليدای شې. يو تن پکې ليدای شې. د مينې او احساس په خوند سربېره د يوه انسان ټول عمر ليدلی شې چې څرنګه پيل کېږي؟ څرنګه پخوالي ته رسي او څرنګه د ښېلتانه او ځلاوالي ترخه زهر له ستوني تېروي؟

هغه په هنداره کې د مخ په کتو بوخته شوه او د ژوندانه يوه نسبتاً اوږده ماضي يې پکې وليده.
شپه تر سهاره رسېدلې وه. د سپوږمۍ د رڼا تناب ټول شوی وو او د لمر ځرېکې ته يې لاره پرېښې وه، خو زه د يوه ستړي او اوږده مزله د لاروي په توګه چې د دمه ځای په لټه وي د ژوندانه خوره وهلې دېوال ته تکيه شوم او د تېرې شپې اوږده سفر ته په چرتونو کې ولاړم.

لندن، ۲۱ د نوامبر ۱۹۹۹

# ورکه لاره

د موټر ټولې سپرلۍ په دراندو خوب ځنګېدلې، خو کله چې موټر د ښېښه نيولې لاروي په څېر د صنعتي پارک له سيمې د کابل جلال آباد لوی لارې ته ورننوت. له ليرې يې خپل ګرندیتوب نور هم لږ کړ. هلته وړاندې يو سړی له دوو درې ماشومانو سره د سرک پر څنډه ولاړ وو. لاس يې موټر ته نيولی وو او په پرله پسې توګه يې د لاس په اشاره د موټر د دربېدو غوښتنه کوله. هغه ته په نږدې کېدو سره موټر تم شو. څه نا څه د پاخه عمر سړی چې لوګو وهلې کالي يې په تن او پکول يې پر سر وو. په داسې حال کې چې يوه ماشومه يې په غېږ کې وه له دوه نورو ماشومو جينکيو سره موټر ته راوخوت.
ورو د چلوونکي په غوږ کې وپسېد. له جيبه يې يوه څه پيسې راوويستلې او چلوونکي ته يې وروښودې. همدومره پوه شوم چې وی ويل:
همدومره لرم. يخني ده، جنګ دی، نورې راسره نشته. پر ما ډېر بد ساعت دی. چلوونکی لومړی دوه زړه شو لکه چې په لږه شېبه کې د جنګ يخنۍ ماشومانو او د خلکو د بد ساعت او بدې ورځې جاج واخيست. بيا يې ورته د تاييد سر وخوځاوه يوه خبره يې وکړه:
ځه هلته په څوکۍ کښېنه دغه هم مه راکوه.

محمد اکبر کرګر انځورونه که هنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر ته د نوي راختلي سړي اکر ډېر وران وو. رنګ يې الوتی او د چا خبره تک زېړ تښتېدلی وو. د ماشومانو هم شونډې وچې وې. درې ماشومې نجونې چې يوه پکې لږه غوټه کې وه په ځنګ کې کښېنولې. د لاسايني لاس يې ورته پرمخ راښکود. يوه ډېره کوچنۍ چې د مور له ټټره راجلا شوې وه. په غېږ کې کښېنوله، پرمخ يې ښکل کړه. د هغې په ښکلولو سره يې سترګې نمجنې شوې، خو خپل صبر او زغم يې له لاسه ورنه کړ. شاوخوا يې وکتل د موټر ټوله سورلۍ نوي راختلي سړي ته ځير وه. نوموړی زما ترڅنګ ناست وو. زما هم زړه صبر نه شو ورو مې ترې وپوښتل. صيب تاسې د کوم ځای ياست؟ ما چېرې ليدلی يې.

ـ هو زه د کونړ يم.

ارومرو به مو د کونړ پر لاره ليدلي وي.

ـ هو کېدای شي زه د کونړونو د ولايت يم دلته په کابل کې افسر وم، خو اوس... او بيا يې سوړ اسوېلی وکېښ.

ـ پوه شوم لږ لږ مې ياد ته راځي.

ـ وبښه ستا نوم؟

ـ زما نوم خان مامد دی. څو کاله وړاندې په دې ودانيو کې زما دنده وه (لاس يې د حربي پوهنتون ودانۍ ته ونيوه) دلته استاد وم.

خو خان مامد بيا له خپلو ماشومانو سره بوخت شو. د وړې ماشومې نجلۍ په لاس کې چې يوه وچه کلکه مړۍ (ډوډۍ) يې نيولې وه کله به يې خولې ته وروړه او کله به يې پلار ته ونيوله. چېغې به يې سر کړې او د پلار په غېږ کې به يې لالچ پيل کړ او د غټې خور غېږ ته به يې ځان اوږد کړ.

د ماشوم په ګونګه ژبه نور څوک نه پوهېدل. يوازې پلار او دوه نورې ماشومانې پوهېدلې. د وړې نجلۍ له لالچ سره به دوه نورې نجونې چې د موټر له ښيښې به يې بهر کتل پرېشانه شوې، غلې به شوې او د ماشومې په د لاسا کولو به يې ځان مشغول کړ. خان به کله ماشومه د هغې غټې خور ته ورکړه او کله به يې بېرته واخېستله. هغې به هڅه کوله چې پام يې وربدل کړي. همدا به يې ورته تکراروله.

هاغه دی توتو وګوره پټي کې ګرځي. وګوره هغه سړی چې ټوپک يې په لاس کې دی، ورته وګوره څومره غټ ښکرونه لري. هاغه ده مورجانه راغله. د مور په اورېدو سره به ماشومه يو دم غلې شوه او حيران حيران به يې وکتل.

موټر په توندۍ سره د ماهيپر له پېچومي راښکته کېده، خو په موټر کې به ځېنې سواره کسان د ماشومې له شور او ځوږ نه ناارامه شول، خو ځېنو نورو به ځانونه چوپ او غلي نيولي ول. چلوونکي به هېڅ نه ويل او نه به يې د نجلۍ د شور په باب څه اند ښننه کوله.

محمد اکبر کرګر          انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر ښايسته ډېره لاره وهلې وه. د گوگا منډي دوکانونو ته راورسېده، پخه غرمه شوې وه. لږ مزله خو ناهمواره سرک ټول له اده بده ويستلي ول. خو نجلۍ د موټر د جمپونو او ټوپونو پر اثر لکه وزر ماتی مرغه ستړې ستومانه تالې والې د خپل پلار په غېږ کې پرېوته او وېده شوه. پلار يې ورته د خپل څادر په پيڅکه پزه پاکه کړه. گاډی ودرېد ټوله سپرلۍ د غرمې ډوډۍ او د ماسپښين لمانځه ته کښته شوه.

خو خان په موټر کې پاتې شو ترې مې وپوښتل: څه چې کوز شو ډوډۍ نه خورې؟

هغه ځواب راکړ: يره خوا ته مې نه کېږي.

برېښېدل چې ماشومان هم نار نهور ول. زه هم د خان له خبرې سره پښه نيولی شوم له ځانه سره مې وويل لکه چې پيسې ورسره نشته. زړه مې لوی کړ او بيا مې وپوښته:

ـ ما ته ډېر اوتر او ناارامه ښکارې. بيا مې د پيسو ست سلا ورته وکړه، خو د هغه په فکر او روان کې د ماشومانو لوږه د هغه بېوسي او له بلې خوا د هغه غرور سره د خيروشر په څېر په اوږده شخړه اخته وو. د هوټل نوکر راغی او بيا د ماشومانو لپاره ډوډۍ راوغوښتل شوه. او له هغه وروسته خان خپله غمنامه راو سپړله:

ـ هو زه او بيا يې اسويلي وکېښ. اوس حيران يم چې په دې تنکيو ماشومانو څه وکړم او چېرته ولاړ شم.

ـ خبره څه ده؟

ـ پروني جنگ راته ټوله هستي تباه کړه. هر څه يې را نه په څو شېبو کې واخېستل.

ورته حيران شوم. هغه په بند ستوني خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

ـ پرون چې د هوايي ډگر په لور د راکټونو زور شو. يو نالتي زما د کور په انگړ کې ولگېد. زه د دې درې ماشومانو سره په کوټه کې وم.

مېرمن مې په انگړ کې په کاليو وينځلو بوخته وه، توغندی نېغ د هغې پر سر ولگېد. ټول تن يې ورته دانه دانه کړ. د غوښو بوټۍ يې د راټولولو نه وې، بلکې پر دېوالونو نښتې وې. همدومره مې وکړل چې په انگړ کې کنده وباسم او په کمپله کې د هغې غوښې راټولې او هلته يې خښې کړم.

هو هغه مې خاورو ته وسپارله. نژدې يوه گاونډي راسره مرسته وکړه. له هماغه خښتو چې هغې ترې نغری جوړ کړی وو پر قبر مې ورډېرۍ کړې.

او بيا يې ستونی ډډ شو، ماشومانو ته يې د سترگو له لاندې وکتل:

ـ اوس نو کور د هغې مړستون دی لکه چې ټول کلی او کوڅې اوس زموږ د خپلو خپلوانو مړستونونه دي. زه هم د نورو په پل له خپلو درېو ماشومانو سره په نامالومه لار راروان شوم. نه پوهېږم چې اوس چېرته لاړ شم او په دې ماشومانو څه وکړم؟

محمد اکبر کرگر — انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګونګوټان

نن سهار چې مې له کړکۍ نه بهر سړک ته وکتل، نو په ټول چاپېریال توره تیاره خپره وه. سړکونه شاړ او خالي پراته ول. دواړو خواوو ته د کوچنیو ګاډو قطارونه ولاړ ول. لا تور سهار وو. امه شمه نه وه. تور سړک د پولادي او خړو کورونو په مینځ کې لکه تور ښامار اوږد غځېدلي وو. یو نیم ګاډی به د خپلو سترګیو په رڼا سره وځلېده او د هغه په تېرېدو سره به بیا چویتیا خپره شوه. اسمان هم د تورو باراني وریځو پنډونو اخېړ کړی وو. فکر کېده چې دا تورتم په خلاصېدو نه دی، خو په پرله پسې توګه د تور تمونو لیدلو ستونی خفه کاوه. په تېره هغه چا ته چې هرڅه ورته پردي وي. ان په څنګ کې نزدې ګاونډی هم د مخ په مخ (مخامخ) کېدو په وخت د شونډو مسکا کوي او کله ناکله چې یې زړه وغواړي یوازې د هیلو (سلام) غږ کوي. هسې خو د لندن اسمان ټول منی او ژمی وریځ وي، خو چې د څو ورځو لپاره په پرله پسې توګه اسمان وریځ وي او لمر ونه لیدل شي، نو بیا د سړي حواس نور هم مړ ژواندي کوي او د ژوندانه سره مینه او اشتیاق (اشتها ) ورو ورو کموي.

په همدې زړه تنګۍ او نفس (ساه) تنګۍ سره د چایو د تیارولو لپاره پخلنځي ته ورننوتلم. هلته بېګاني لوښي له خوراکي شیانو ککړ پراته ول. د مېزونو سر ټول چټلو لوښو او تورو حشرو نیولی وو. پښه نیولی ورته ودرېدم. غوږ مې ورته کېښوده د ټولو ګډو وډو لوښو سره سره بیا هم ما هېڅ لاس ورنږدې نه کړ. یو ډول نامحسوس اواز مې تر غوږ شو. په کور کې، بهر او په انګړ کې هېڅ ښکالو نه وه. توره خړه وه، لمر خو هسې هم نه وو، رڼا ورکه وه. اسمان تک تور وو، ځمکه هم ورسره توره وه، خو یوازې څراغونو په سرک کې سترګکونه وهل.

لږ نور هم ځیر شوم. د پخلنځي د دېوالونو په سوریو کې د کور د ډېرو پخوانیو ګونګوټانو (کاکروچانو ) د شور زوږ ګونګوسي ختل.
ګونګوټانو پخپلو مینځو کې سره شور زوږ جوړ کړی وو. یو بل ته سره په نانديریو بوخت ول. یو بل ته یې کیسې کولې او پر یو بل یې ملنډې وهلې. د هغوی تر مینځ هم د کترو او کنایو بازار ګرم وو.

زه چې د بهر چاپېریال او دننه زړه تنګۍ څخه ډېر په تنګ وم. ما هم داسې احساس کاوه لکه چې اوس ګونګوټ شوی یم. یو وار مې ځان ته ټکان ورکړ نه، نه. سمه ده زه هم مسخ (بدل) شوی یم لکه ګونګوټ. (کاکروچ) یم، ایا کېدای شي انسان کاکروچ شي؟ ولې نه ګونګوټان خوراک ته اړه لري او د خوراکي شیانو په ځای کې ژوند کوي – بنیادم هم د



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوراک پسې دوه خپلې او دوه نورې پور کوي – دواړه د ځمکې پر سر ژوند کوي. دواړه ژوي دي، دواړه زېږون او لنگون کوي. دواړه خوښ او خوندي ځايونه خوښوي او دواړه او دواړه ... . په انسان کې د هرڅه ځانګړنې شته. نو ځکه خو د گونگوټانو اوازونه اورم، نو زه هم يو تيار عيار (سوټ موټ) گونگوټ يم. خو نه داسې به هم نه وي ځکه که خبره داسې مطرح شي چې زه گونگوټ يم، نو دا نوي دوران ته رسېدلي گونگوټان به ما ومني؟ چې ځواب منفي دی.

په هرحال خبره د دې کور د گونگوټانو ده او شخړه هم په دې کې ده چې

گونگوټ په پښتو ژبه کې هغه حشره ده چې وزرې لري او په مرداريو کې گرځي. خو دلته له گونگوټ څخه هدف هغه حشرات دي، چې يوازې د خوراکي ځيزونو د ساتلو په ځايونو کې ژوند کوي. له گونگوټانو څخه هدف هماغه کاکروچان دي چې په کابل کې يې مادرکيک بولي.

خو اوس زه د گونگوټانو په نړۍ کې يم. دوی هم بېله دونيا لري، دوی هم بېلې ستونزې لري او دوی هم خپل کبر او غرور لري. خو زه د هغوی خبرو پر سر واخبستم او نور يې هم شبېه په شبېه ځان پسې راښکودم. ما هم ځان د هغو په څېر د پاتې خوراکي شيانو په لوښو کې وليد. د هغو په څېر مې ځان له وزرو او بې شمېره پښو سره احساس کړ. نه يوازې احساس، بلکې هم داسې يو حالت د يو گونگوټ په څېر، د هغو په څېر چې پر ما يې د ځان په څېر حساب نه کاوه. پوره گونگوټ يم. نو چې گونگوټ يم، نو بيا د بيروني نړۍ يوه کيسه درته کوم. له همدې سره يې په درنگ شېبه کې يوه پېښه زما په ذهن کې راژوندۍ کړه او هغه په دې ډول وه چې:
يو وخت زه ډېر کوچنی وم او په خپل کلي کې له خپل مور و پلار سره په يوه کوټه کې اوسېدم. ښه مې په ياد دي چې کله به مې مور له خوبه راپاڅېده، نو ارومرو به يې زما بړستنه کتله او چې لږ څه به نيمکښه وه هغه به يې راباندې ښېرته سموله. او چې کله به په خوب کې ناارامه وم، نو ارومرو به مې مور راپاڅېدله او زما پوښتنه به يې کوله. نو که خبره د وېرې او ترهې وي، نو هغه وخت لا هم دومره نه وم وېرېدلی. ځکه هغه مهال به يوازې زما په شونډه تاوخال راختلو، خو اوس د گونگوټانو دونيا زما د رگونو وينه وچه کړه او زه يې د خپل نوعيت په باب (اړه) له بيرونۍ نړۍ سره په پرتله کې په شک کې واچولم.

په هرحال ما د خپل ماشومتوب کيسه کوله. اصلي خبره دا وه چې يو وخت زما پلار يوه نوې کوټه جوړه کړې وه. د زړې کلا په خوا کې وه. کوټې هم زړې کلا ته لاره درلوده او هم يې بېله دروازه درلوده. يوازې غوا او غوايي به د نوې لارې راننوتل دا لنډه لاره وه. بنيادمانو کولی شول له دواړو لارو گټه واخلي، خو اوږده لاره يې غوره بلله او پر هغې عادت ول.

محمد اکبر کرگر　　　　انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدغه کوټه کې چې یوه شپه سهار له خوبه پاڅېدم، نو په تورتم کوټه کې مې د پتنګانو بنګاری تر غوږو شو. مېږيان هرې خوا ته الوتل. مور مې ژر لالټين ولګاوه. د رڼا په لګېدو سره يې سملاسي بسم الله الرحمن الرحيم وويل او سملاسي په دې لټه کې شول چې د وزر لرونکيو مېږيانو د راوتلو ځای پيدا کړي. کله چې زما موروپلار له کټونو کوز شول، نو سملاسي يې په نغري سترګې ولګېدې چې درزونه پکې شوي ول او له هغه درزونو د مېږيانو لښکر راوته ټولو د شش کلمو په ويلو پيل وکړ، دوعاګانې سر شوې. د مېږيانو راوتل يې د قيامت نښه وبلله، خو مور مې په دې ټينګار کاوه چې مېږيانو ته چې خدای په قهر شي، نو وزرې کوي. هغې د نورو د پوښتنو په وړاندې په دې ټينګار کاوه چې دا يوازې متل نه دی، بلکې کتابي مساله ده او د کتاب په خبرو کې هډو دروغ نشته. خو زه چې اوس هم فکر کوم دا خبره رښتيا چې بې بنياده نه وه ځکه چې کله به مېږيان له خپلو سوړو راووتل، نو بيا خو بېرته خپلو کورونو ته نه ننوتل، بلکې ورکېدل به، تری تم کېدل به او د هوا مرغانو به خوړل.

خو دا چې زه ترې سر ټکوم دا ګونګوټان دي. دا هغه مېږيان نه دي، خو يو ورته والی لري. نه يوازې ورته والی، بلکې زه هم ورسره ورته يم. زه هم د ورکېدو په حالت کې يم. ځان له ځمکې پورته او له اسمانه کښته په فضا کې احساسوم. دا سې ګونګوټ چې له ځمکې سره يې اړيکې شلېدلې وي ځوړند وي. د منډ ابښودو مجال ورته نه وي. پلې او رېښې يې غوڅې وي، خو يو ورته والی لرم يا يو ورته والی سره لرو. موږ ګونګوټان او هغوی مېږيان، او هغه دا دی چې دواړه حشرې دي او دې ګونګوټانو ما ته هغه د ماشومتوب کيسه راژوندۍ کړه. وی ترهولم، وې وېرولم ځکه دوی د بنيادمانو په څېر خبرې کوي. او هماغه شان عمل کوي. انتقاد کوي، ناندرۍ کوي، خو نه پوهېږم چې زه ورته د مېږي حيثيت لرم او که دوی هم په خپل موقعيت پوهېږي. خو دا ګونګوټې څه بل شان دي. کله چې په کور کې غړغوړ او ښکالو ورکه شي، نو بيا د يو تور لښکر په څېر له خپلو سوړو راووځي.

خو زه دا احساس کوم چې ما هم تغيير کړی دی. له هغه ورځې چې زه دې کور ته راغلی يم ما هم ډېر بدلون موندلی دی. زه هم ځان ګونګوټ احساسوم ورو ورو انساني کړه وړه له لاسه ورکوم. لکه دې نورو چې ان له پخوا يې نه درلودل او په دې وياړ هم کوي او حق لري چې وویاړي ځکه په خپل نوعيت خبرتيا او شعور پيدا کول د وياړ جوګه وي.

هو خبره مې دا کوله چې کله ما دې کور ته کډه کړې او له دې ګونګوټانو سره همکاسه شوی يم، نو په بې مانا او بېهوده ډول په دې هڅه کې وم چې څرنګه دا ګونګوټې ورکې کړم. له ډېرو کسانو سره زما مشوره بېځايه او بې مانا او بې ګټې وه ځکه چې زه په دې نه پوهېدم چې دا ګونګوټې ډېرې هوښيارې او د چا خبره چې د شيطان سر يې ګرولی دی.

محمد اکبر کرګر          انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دغه ورځ مې ناڅاپه يو څه په ذهن کې وګرځېدل. ومې پتېيله چې راځه نن د دوی د ذهنونو په دهلېزونو کې قدم ووهه، نو ځکه خو مې ځان له دوی څخه هم کوچنی کړ او بيا د دوی د ذهن دهلېزونو کې پلی شوم.

ما ته د ګونګوټانو دونيا ځکه ډېره نوې او عجيبه ده چې ما له مخه دا ډول تصور (سوچ) نه کاوه. زه يوازې په لندن کې له دوی سره مخامخ شوم او بله دا چې زما د کور کلي او لندن ډېر توپير دی. ما د لندن په باب په خپل کور وکلي کې ډېر څه اورېدلي ول. زموږ په کلي کې خو لندن ته خلکو وليت (ولايت) ويل. ښه مې په ياد دي کله چې به ما د لندن نوم واورېد، نو سم د واره به مې په ذهن کې يو شيش محل راژوندی شو. پاک سوتره چې هروخت پکې لمر وي. نه تود او نه سوړ، نه منی او نه ژمی. نه پکې باران او نه پکې ږلۍ. او د لندن د انسانانو په باب مې هم دا ډول فکر کاوه چې ګواکې دوی به بدل وي. کينه او رخه به نه لري. ناروغي به نه لري ان تشناب ته به نه ځي او متيازې به هم نه کوي او دا ځکه چې کله به کوم کس له لندنه زموږ کلي ته راغی، نو په شمېر خبرې به يې کولې او د ښنلو لپاره به يې ځانګړې اوبه ګرځولې. نورې ځانګړنې به يې نه درته وايم.

البته له تاسو دې پټه پاتې نه وي چې يوې بلې خبرې هم زما تصورات (سوچونه) پياوړي کړي ول او هغه د جنت په باب د ملايانو مسالې وې. کله چې به کوم مړی وشو، نو د هغه د ښخولو په مراسمو کې به يې په ډېر خوند جنت ستايه او يا به يې د جمعې په لمانځه کې پرې خبرې کولې، نو له خونده به يې خولې ځګونه وکړل. حورې او غلمان به يې سره لاندې باندې کړل. د شېدو او شاتو په ويالو کې به ملا خپله ورګډ شو او ښه په مزه به يې پکې ولمبل. او چې پر منبر به يې يو اوږد اررمی وکړ، نو د جنت د ستايلو يوه برخه به هم پای ته ورسېدله. ما هم فکر کاوه چې کېدای شي د ملا په قول جنت هم دا لندن وي.

خو لنډه دا چې د ځمکې د سر جنت هستوګن ټول دا ناروغی لري. د ټولو له خولو يو او بل ډول بوي هم ځي. او دومره امر ونهی يې اورېدلې ده چې بل نابلده ووينې، نو بيا ورته ځان داسې وپړسوي چې خپلې ټولې سپورې سپکې په خورو دوړو بدلې کړي او دا ځکه د خپلې روغتيا انډول برابر کړي.

په هرصورت خبره بيا هم د ګونګوټو ده. دا اسيايي ګونګوټې نه دي چې زه ترې په تنګ يم او زما د سر په کاسه کې اوس اوبه ښني، بلکې دا لندنۍ ګونګوټې دي، نو ځکه خو د دوی د اوږو ارتول هم توپير لري. حرکات يې هم بدل دي او د شونډو له پاسه هر چا ته خوله چينګول خو يې په رګونو کې ځای نيولی دی. هغوی چې لږه موده يې شوې ده په مورنۍ ژبه خبرې کوي، خو هغوی چې هم دلته اوس راپورته شوي دي په ډېره انجړ انګرېزي خبرې کوي.

محمد اکبر کرګر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زما د کور گونگوټې په زړه پورې مخلوقات دی او ځکه خو ترې زه دوه سپږمو ته راغلی یم. دوه سپږمو ته نه، بلکې غواړې ما هم د ځان په څېر کړي. سره له دې چې ما په خپله گله کې نه پرېږدي. په دوی کې هم سیالي او شریکي خپل اوج ته رسېدلی ده. یو د بل پسې خبرې اترې، گپ شپ، راشه درشه او هرڅه لندني دي او د اوږو ارتول یې هم لندنی عادت شوی دی. کله چې یو وار بیا د یوه زلموټکي هلک ذهن ته ورننوتم پخوانی نوم یې داود وو. خو ده ځان ته ډیوېډ ویل او خپلو دوستانو ته یې هم ویل چې هغه ډیوېډ ونوموي. په هغه خپل نیکه دا نوم ایښی وو، خو د دې لپاره چې د لندن بومیان (اصلي اوسېدونکي) یې ونه پېژني او له هغوی خپل نوعیت او نسل پټ کړي، نو په نوي نوم به یې ټینگار کاوه. د یوې بلې گونگوټې ذهن خو دومره له خبرو ډک وو چې ما ته پکې د قدم وهلو لاره هم نه وه او د پښې ایښودلو ځای خو هېڅ درک نه وو. د هغې خو دا تکیه کلام وو چې لرل لرل دې اخوا ته کړه او دا ووایه چه څه لرې؟

هروخت چې به مې دا خبره واورېده، نو سم د واره به مې د بالاباغ د کلي د دوه تنو ښځو جنگ را په یاد شو، چې کله به په کوڅه کې په جنگ سترې شوې، نو بیا به د بام سر ته وختې او خپل ټول نیکلي چاینکونه او ان د ناوېتوب سره برستنه به یوې بلې ته وروښوده او ویل به یې چې زما له دې سره یې ووایه. زه دا لرم ته یې لرې؟ په کابل کې هم یو وخت داسې وه کله به چې پخواني یاران سره مخامخ شول، نو یوه به له بله پوښتنه کوله چې په څویم بست کې کار کوې. که هغه بل به په ټیټ بست کې وو، نو لومړني به ژر بهانه کوله او رخصت به یې اخېست ځکه پخوانی یار به یې خپل سیال نه گاڼه.

ما چې په دې ټولو خبرو سوچ وکړ او بیا مې د گونگوټو ذهنونه وپلټل او بیا مې خپل ځان ته فکر شو. لږ څه شاکي (ټکنی) شوم او په دې خبره مې لږ څه سر خلاص شو چې ولا لندن رښتیا چې هر څه بدلوي ان جنسیت بدلوي. نر ښځه کوي او ښځه نر کوي. بنیادم گونگوټ کوي او گونگوټ په خبرو راولي. سم د واره مې پر سر لاس تېر کړ چې گواکې ښکر مې نه وي شوی، خو له نېکه مرغه چې سر مې د پخوا په څېر هوار وو، خو تلوسه او اندېښنه راته پیدا شوه. د ځېنو نورو څو تنو په باب مې هم اندېښنه وه او په دې هڅه کې وم چې کله به وي چې له ما سره لمبا ځای ته ولاړ شي چې کله کالي وباسي او له شاه یې وگورم چې د سورین له پاسه یې غوښه او هډوکي نه وي راشنه شوي.

خو زما له ذهنه هم دا مهال د بنجاره هټۍ جوړه وه له هر ډول سودا او اندېښني نه ډک وو. خو د گونگوټو ملنډو هم داسې دوام درلود او هم دا به یې په کنایو (اشارو) کې سره ویل چې کله به وي چې د دې اسیایي لکۍ ورغوټه کړو او له دې کوره یې وباسو. د گونگوټو همېشنۍ لاس وهنه او بې شمېره کترې کنایې نورې وروستي حد ته ورسېدلې. ټیم (وخت) ورکول یې نور له اندازې زیات شول. په دې کنایو او کترو یې ما ته د کابل یوه رواجي اصطلاح را په زړه کړه: یو شمېر کسان چې «نوي دوران» ته رسېدلي یې بلل،



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې کسان ول چې نوي د ښاري ژوند سره اشنا شوي ول او د خپلې تېرې ماضي سره يې د چا خبره قطع وبريد کړی وو (بس/ختمه کړېوه) او چې پلار يا کوم کليوال به يې دفتر ته ورغی، نو سم د واره به يې سکرتر ته وويل چې دی خو زموږ دهقان دی. زما د ځمکو صاف کار دی، ډېر ښه سړی دی. لږ چای ورته ورکړه او د سروبس کرايه هم ورته ورکړه او رخصت يې کړه. خو اوس چې د گونگوټانو (کاکروچانو) نړۍ گورم او يا د هغوی په ذهن کې يم نو يو بدلون وينم. داسې بدلون چې ته به وايې يو وار بيا مورواکی نظام په گونگوټانو کې سر راپورته کړی دی.

زه لا په دې فکر کې وم او د هغو ی د ذهن په دهليزونو کې په قدم وهلو وم چې ناڅاپه دوه زلموټکي گونگوټان له خپلې سوړې نه چې د الماری په روک کې يې ځای نيولی وو راننوتل او په انجړ انگرېزي يې د هيلو (سلام) غږ وکړ او بلې خوا ته تېر شول. نورو گونگوټانو خپل ښکرونه رانيغ کړل او يوه بل ته يې د شونډو پر سر انگرېزي مسکا وکړه او بيا يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ:
د کور دا اوسنی لانتي (لعنتي) اوسېدونکی ډېر بد سړی دی، له ده يې ښځه ډېره بده ده. هغه کری ورځ په پلورنځيو گرځي او زموږ لپاره د وژونکو داروگانو نومونه اخلي او بيا دغه داروگان موږ ته راوړي او هره شپه يې پر موږ ټرايي «ازمايي» کوي. بلې گونگوټې چې ځان ته يې څه ويل په خبرو خوله راخلاصه کړه وی ويل: دا د کور اوسنی اوسېدونکی ډېر نمک حرامه دی خپل او پردی نه گوري. د مېز پر سر خو خځوځکی بيخي نه پرېږدي. په خپله خو انکم سپورټ (income support) اخلي، خو پر موږ يې پاتې شوي خواړه هم پېرزو نه دي. د دې کور مخکېنی اوسېدونکی چې هر چېرې وي ښاد او اباد دې وي. هغه يو اصيل «پکی» وو، مهاجر «پکی» وو. د پاکی په کيسه کې نه وو. پخپله يې موږ له ځانه سره په کاسه او په پشقاب کې پرېښودلو. هغه ډېر زموږ خيال (پام) ساته. گونگوټ «ب» يې په خبره کې ورننوته او سم د واره يې وويل: زه خبر يم ده خو ډېر ځله لاند لارد land lord (د کور څښتن) ته هم زموږ له لاسه شکايت کړی دی او د هاوسنگ housing افسرانو (کور مېشتی کارمندانو) ته يې هم څو څو وارې ويلي دي. خو د هغوی دې کور اباد وي چې د اوسني گاونډي په خوله يې پياز هم ونه خوړل. د هاوسنگ (کورمېشتی) افسر (کارمند) ورته وويل چې گونگوټان مضر حشرات نه دي او موږ يې چاره نه شو کولی، خو گونگوټ «الف» څرگنده کړه او د «ب» خبره يې د خپل پوز په برېتو تاييد کړه وی ويل چې دی هسې خپل وخت عبث تېروي.

د هاوسنگ افسران (کورمېشتی کارمندان) او مستر (ښاغلی) سبز سنگهه ښه پوهېږي چې موږ څوک يو؟ موږ بومي يو. زموږ وينه رگونه او وزرې برېټش دي. موږ خو بايد د يو جنگ ځپلي اسيايي سره برابر نه کړي. «الف» ورسره ومنله او په ډاډ يې ورته وويل: داسې داروگان چې د کور اوسنی گاونډی يې راوړي لکه «ريد» دا خو زموږ نسوار هم نه دي او نه خو پر موږ څه اثر کولی شي. ده ته خو په کار ده چې ان له موږ نه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه وکړي چې څه پخوې، چېرته ځې او له چا سره راشه درشه کوې. چا ته مېلمستیا ورکوې او د چا بلنې ته ورځې؟ ده او مېرمنې ته خو په کار دا ول چې له مور پوښتنه وکړي چې د اونۍ په بېلابېلو ورځو کې څرنګه جامې واغوندي. په څو بجو وېده شي او په څو بجو له خوبه پاڅي. رښتیا چې د لویدیځې نړۍ د ازادۍ یوه غټه نیمګړتیا هم دا ده چې هېڅوک خپل حد او اندازه نه پېژني، بلکې د خپل موقعیت سره پردی کېږي او د بحران اساسي ټکی هم دلته دی. ده ته په کار ده چې مور په کاسه کې، په پشقاب کې ان د چایو په پیاله کې او ان د ډوډۍ په هغه توست toast باندې چې مسکه (کوچ) او مربع پرې وهي مور ته اجازه راکړي چې لږه څکه ترې وکړو او هم زمور درناوی باید وکړي. دی باید په دې وپوهېږي چې د ټوکرۍ ډوډۍ ورسره زمور شریکه ده. ښځې او ماشومانو ته هم باید ووایي چې هسې مور ته غابښونه ونه چیچي او نه خو پر مور ټیم پاس کړي. زمور رګ وربېښه لندنۍ شوې ده. دلته باید د خپل وطن پېښې ونه کړي او نه خو راته له ځانه د پخوا په څېر پوځي منصبدار جوړ کړي. دا لندن دی. دلته د بوډۍ ټال دی، د بوډۍ له ټاله چې هرڅوک تېر شي د هغه جنسیت بدلېږي. دلته هم نر ښځه کېږي او ښځه نر کېږي. زما نر ته ګوره څومره ښه ګونګوټ جنټلمین دی. یوازې ګونګوټ نه، بلکې په ګونګوټانو کې جنټلمین دی، نو ځکه ورته زه ګونګوټ جنټلمین وایم.

څومره ښه سړی دی، زما یوه خبره شا ته نه غورځوي. زه ورته هر سهار مهالوېش ورکوم. له سهار نه تر غرمې پورې ملا چرګک وي او له غرمې وروسته بیا فیلمرغ شي او چې ماښام کور ته راننوځي، نو سم دم زمور او ستاسې په څېر ګونګوټ جنټلمین وي، خو زه د دې کور اوسېدونکي ته حیران یم. دا عجیب مخلوق دی. زمور ګونګوټان دې خدای د ده له سیوري وساتي. په ده لا د لندن اوبه ښې نه دي لګېدلې، دی اوس هم هماغه د افسرانو پېښې کوي او له دې خبر نه دی چې:

لاړې لاړې چې به ته پرې نازېدلې هغه لاړې

آ، کوترې، آ چوغکې او خراړې،

دی هېڅ په خبره نه پوهېږي خپل موقعیت او زمور موقعیت نه پېژني. غواړي چې په رڼا ورځ ورته د اسمان ستوري وروښایم لکه چې غواړي لکۍ یې ورته غوټه کړم او په راغلې لار یې رخصت کړم....

خو زه لا د دوی د ذهن په دهلېزونو کې وم. دا سې احساس مې کاوه چې اوس نو له ځمکې څو فرسنګه اوچت یم. پښې مې هم له ځمکې جګې دي. له ځمکې جلا یم، ترې پورته یم. نورې مې پښې نه ورځي. ناڅاپه مې خپل قبر ته پام شو او بیا مې ځان ته پام شو مړه د اوس غم کوه. د قبر او هډیرې غم دې نور مه کوه ژوندی دې ژاړه.

خو ناڅاپه ټکټک شو او د کور مېرمن په دروازه راننوته. د سودا خلته یې په لاس کې وه په وېر او ساه وتیګاه وه. سملاسي یې خلته په دهلېز کې وغورځوله وې ویل: دا واخلئ!

محمد اکبر کرګر                    انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ډول سپری، مې راوړي دي چې د ګونګوټو لپاره ټک وپټری دي. او بیا یې په وبر او سرخوړی، وویل خدای خو دې مو ژر له دې ګونګوټو خلاص کړي. له دې نه خو هماغه ... ښه وو چې راسا (سملاسي) یې وژل کول.
سملاسي ګونګوټې «ب» ته ورننږدې شوه وی ویل:
دی لېوني ته ګوره. وایې چې یو سړی چا په کلي کې نه پرېښوده، هغه ویل اس مې د ملک کره وتړئ!

دی لکه چې د لندن نه خبر نه دی؟ لندن خو قانون لري لکه چې غواړي د سوتهال پر سړکونو هم را نه ونه ګرځي. ملګري یې ورزیاته کړه، دی له ځانه خبر نه دی. نن دی که سبا دی دا مال د زرغون شاه دی. ان شاءالله چې د مازیګر ومابښام ترمینځ به یې بل کور ته کډه کړي وي ځکه چې دی زموږ بېحرمتي کوي. ناسپاس دی، نمکحرامه دی او د خپل ځان او زموږ ترمینځ توپیر ته قایل نه دی.

د دې خبر په اورېدو زه هم د هغوی د ذهنونو په دهلېزونو کې پاتې شوم. له هماغه ځایه مې کتل چې کوچني زوی مې پاکټ د مېرمنې مخې ته کېښوده او ورته وی ویل: دا پوسته رسان (ډاګي) سهار مهال راوړی دی. ترې وی پوښتل څه یې لیکلي دي؟
ـ ته یې خپله ولوله چې د خولې خوند دې جوړ شي.
کله چې هغې د پاکټ سر ښېرته کړ، نو یوه جمله یې تر سترګو شوه چې لیکلي یې ول:
کډوال کډه دې په شاه کړه او بل کور ته درومه!

لندن، **۵** جنوري **۲۰۰۳**

Samsoor.com

ژړا په سندره کې

او کله به چې نازنینه د کور له کاره وزګاره شوه، نو ورو به یې د خپل پام د اړولو لپاره د ډبګ پر سر پوښ ګوتې کېښودې او په غریو نیولي اواز به یې دا زمزمه پیل کړه:
دلبرم دلبر خانه خرابم کرد　　　چشم شهلایت دیده پرابم کرد
دلبرم دلبر.

محمد اکبر کرګر　　　　　　انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا به یې له واره مړې اوښکې په سرو اننګو راماتې شوې له خبرو اترو به ووته. ستونی به یې ډډ شو. یو وار به یې سترګې پورته د دالان پر چت وګنډلې او بیا به یې خپلو دوه ماشومانو ته پام شو. ځان به یې ونیو د زغم او صبر یوه شپه به یې لکه د زهرو ګوټ له ستوني تېره کړه او خپلو بچو ته به یې وویل:

ولې غلي شوئ راځئ چې په ګډه سره دا سندره ووایو او بیا به ربدي او نرګسې هم د مور سره یو ځای سندره پیل کړه.

د لبرم دلبر خانه خرابم کرد          چشم شهلایت دیده پر ابم کرد

دلبرم دلبر...

ماشومانو به که له یوې خوا شونډې په سندره رپولې، نو له بلې خوا به یې ځانونه د مور په سترګو کې ځای کړي ول او د دې لپاره به یې هم خپلې شونډې رپولې چې د مور خبره یې ځمکې ته ونه لوېږي او له دې سره به د مور په اننګو کې غرق ول. خو نازنینې به هم د دې لپاره چې هم خپل پام بدل کړي او هم د ماشومانو پام، نو ښایسته زیات وخت به یې په دې شان تېراوه. خو کله به یې چې د ربدي او نرګس په شونډو او ماشومانه لهجه د سندرې همدا سر واورېده، نو بیا به د مور اننګو ته ځیر شول او بیا به په فکرونو کې ډوب شول او د مور د اننګو له پاسه به د راروان سېلاب په څپو کې لکه نېزه وړې لاهو شول او سندره به هم یو دم غلې شوه. مور به یې یو ناڅاپه کمکۍ لور نرګسې ته وویل:

ـ خو ته ژاړې کنه. مور به یې د پخلاینې په دود وویل:

نه لورجانې زه خو نه ژاړم ما کله ژړلي دي. ما هېڅکله نه دي ژړلي هسې تږکې به نه کوې. راځئ چې په ګډه سره سندره ووایو او بیا به یې د کورس په ډول اواز پورته کړ.

ربدي به هم اواز پورته کړ او کله به یې د سندرې په مینځ کې راودانګل.

ـ مورجانې ته موږ ته ښتیا ووایه زموږ کور چا خراب کړ؟

مور به یې د حیرانې او لږې خندا نه وروسته وویل:

ـ ای کمعقله موږ کله بل کور درلود. همدا زموږ کور دی زموږ کور هېچا نه دی خراب کړی.

ـ خیر نو ته یې ولې په سندره کې وایې او چې د مور په اننګو به یې د اوښکو راروان رود ته وکتل، نو بیا به یې وسوسه زیاته شوه او وبه یې پوښتله:

ـ زه نوره سندره نه وایم ځکه چې ته له سندرې سره ژاړې. ما ته هغه سندره ووایه چې خوشالي پکې وي.

ـ بچیه جانه (ځو یه ګله) بله سندره مې نه ده زده.

ـ دا دې له چا نه زده کړې ده، خو له هماغه نه به دې بله زده کړې وای.

ـ دا خو مې ستا له پلار نه زده کړې ده او هغه بله راونه ښوده.

ـ نو همدا یوه.

ـ هو همدا یوه او بیا به یې د زوی پر سر لاس راښکود او ورته وبه یې ویل:

محمد اکبر کرګر          انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچی جانه (ځویه ګله) تا دې خدای ځلمی کړي. ټولې سندرې خو د خوشالۍ نه وې او ټولې سندرې خو سړی نه خوشاله کوي او بیا به وړې نرګسې هم د مور خبره غوځه کړه:
ـ نو چې خپه کوي دې ولې یې وایی؟
ـ خو کله کله ښې وې چې وویل شي.
ـ نو د څه لپاره ښې وي؟
ـ ته اوس دا خبره پرېږده. راځئ چې سندرې ووایو.

*** *** ***

ښایسته زیات وختونه تېر شول. نیازبیبۍ ډېر رازونه په خپل زړه کې وساتل. رېدی هم بوتکی شو. نرګسه هم د لوبو د وینځلو شوه، خو نیازبیبۍ خپل بچې په امیدونو رالوی کړل. د نن سبا په هیله او په دې هیله چې ځانګه به نن سبا کې ګل شي. ژر به ستاسو پلار کور ته راشي. هغه په لنډ سفر تللی دی او چې کور ته به یې څوک لیرې خپل خپلوان هم راغلل، نو په دې خبره به یې ملایان کړل چې ګواکې ماشومان هم د خپل پلار د راتلو په هیله دي.

خو د جنګ ښامار د ډېرو ځلمو سرونو لو وکړ او د ډېرو شاه ځلمیو د تنو سرونه یې ټوپ کړل، خو نیازبیبۍ د خپلو ماشومانو د پلار د ژوندانه ټوله بوده او تنسته په یوه سندره کې راغونډه کړې او تل یې په ژبه او تن بار ګرځوله.
شپې ورځې تېرې شوې. ډېر د غم ژمي سبا شول، خو لړۍ یې هېڅ ونه شلېدله. یوه ورځ چې د منې ساړه لا نه وو لګېدلي. ماشومان په کوځه کې په لوبو اخته ول. رېدی هم د کوځې د لوبو شوی وو. ټولو ماشومانو د جنګ پېښې کولې. یوه ډله به د بلې پر وړاندې د دېوال څنډې ته پټېدله او په مقابل لوري به یې د خولې باړونه چلول. جنګ اوس زموږ د کوڅو مینځته راغلی وو او دا مهال یې زموږ کوڅو او انګړونو ته هم لاره کړې وه. لوبه هماغه لوبه وه، خو توپیر یې درلود. د ماشومانو لپاره د لویانو د پېښو او نخرو تمثیل وو. یوازې د لویانو د ساعت تیری لوبه نه، بلکې د ماشومانو لپاره هم د ساعت تېری هغه وه.

زموږ د کلي شینو چې هر وخت به یې د یوه بېرحمه جنګیالي په څېر پایڅې شلېدلې پزه راروانه او د بدن غړې به یې په خپل وس او اراده کې نه ول. د یوه خونخور کجیر په څېر به یې د نورو ماشومانو له زړونو خوند اخیست. ټوله ورځ به یې د خلکو لنګې سپې کوړنجولې. د مچیو چکونه به یې راپارول او د کلیوالو له شپولونو نه به یې لوګي اسمان ته جګول. نن یې د عادت له مخې د رېدي په سترګو کې خاورې وشیندلې. هغه یې وزوراوه او په ځورولو سره یې ټولو هلکانو شینی ملامت کړ.
ماڼو له ټولو ترمخه د رېدي ننګه وکړه:
«نا مرده هغه یتیم دی پلار نه لري. موږ او تاسو خو پلار لرو، هغه خوارکی ولې ژړوې؟»

محمد اکبر کرګر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ «خوارکي خوارکي اسونه په جنګ کې نه ځرېږي، جنګ جنګ دی. پرېږده چې پوخ شي چې کله خپله سترګه له لاسه ورکړي بيا په زرګونو سترګې ښې راکښلی شي.»

خو رېدي د ځان په نسبت د لومړي ځل لپاره د يتيم خبره واورېده. اوښکې يې وچې شوې، هر څه يې له ياده ووتل. د هلکانو سره د يو مات شوي جنګيالي په خبر يې د جنګ ميدان پرېښود. سر پرې وګرځېد داسې لکه چې پاس اسمان پرې څرخي او د پښو لاندې ځمکه يې هم ځغلي لکه چې د پلار د جنازې غږ يې اوس اورېدلی وي. د هغه مړی يې اوس په کور رادننه کړی وي او ځان ته يې فکر شو چې هغه خو ...

په يوه منډه يې د کور پر دروازه ورمنډه کړه. ساوتيګاه پر دروازه ورننوت او په سورو سورو په ژړا شو:
مورجانې ای مورجانې! تا خو مور ته ويلي ول چې پلار مو په سفر تللی او را به شي. تا خو مور ته دروغ ويلي ول، ولې دې مور ته ... اوس زه پوه شوم. هو اوس پوه شوم (سلګۍ) چې زمور پلار مړ دی او مور يتيمان يو....
او بيا د رېدي د سلګو سره د نازنينې ژړا هم لکه د غم سندره غبرګه پاتې شوه.
لندن، ۳۰/۱/۱۹۹۹

# د ستېدو ساوون

تېوله شپه مې له وېرې خوب نه وو کړی. ډېر وېرېدلی او ترهېدلی وم. له کوټې بهر وچې ځلې له قهره غاښونه چيچل. په کوټه کې هم له يخنۍ د چا وس نه کېده. د ډزو درزهار او د جنګ د لوګيو له دندوکاره د وېرې يخني هم زما په تن لکه خپسه ناسته وه. ما شوم زوی مې هم دارنګه ترهېدلی وو. ډېره وېره يې ليدلې وه. توپ له هر درز او د راکټونو د باران له هرې شېبې سره به زما په غېږ کې کلک شو. همدومره به يې وويل:
پلارجانه زه نه وېرېږم. زه له ډزو نه وېرېږم، خو يوازې يخني مې کېږي. ما په غېږ کې کلک ونيسه چې يخني مې ونه شي.
خو له دې خبرې سره به يې ژامې لکه د شوې د پاڼې په څېر ورپېدې. په خپلو خبرو به يې ما ته تسلي راکوله. فکر يې کاوه چې زه د هغه په وېره او ترهه نه پوهېږم. په برستن کې به يې ځان راونغښتو. سر به يې زما سينې ته ښه راجوخت کړ. له سر نه به يې د خولو تريو بوي راپورته شو. ما به هم سپېږمې راکښلې او د هغه د تن د خولو او د سر تروه بوي چې پوره يوه مياشت يې ځان او سر نه و وينځلی لږ څه تسکين راکړ.

محمد اکبر کرګر | انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه شپه ټوله په همدې شان تېره شوه. څه په خوب او څه په وېره او ترهه تېره شوه. او کله به هم د توپونو درنو ګولیو د بربښنا په څېر د تورې شپې په زړه کې لاره کوله او زمونږ د خوب مزې به یې هم راغورځول.

د سهار له راتلو نه له مخه د ډزو درزهار غلی شو، خو خوبونه ټول تښتېدلي ول. د کوټې له چته ډېرې خاورې په بړستنو او غوړېدلي فرش پرتې وې. د خاورو مست بوی د باروتو له بوي او لوګيو سره هماغه شان لکه د ډزو اواز چې زمونږ د خیالونو په دهلېزونو کې تاوېده راتاوېده او په پوره مسلات (سلا) او شریکه سره یې د نابللو په څېر زمونږ سترګې او دماغونه هم سېزل.

له کړکۍ نه بهر توره خړه لېرې شوې وه سهار مهال لګېدلی وو په کوڅه کې د پښنو ښکالو اورېدل کېده. یوه تورسرې د خپلو دوه ماشومانو سره چې زړه بړستن یې پر سر وه لکه ترهېدلې مرغۍ اوتره روانه وه.

یو ژوبل سړی هم ورپسې ګوډ ګوډ کېده په ارتو ګامونو یې لاره لنډوله. هېڅا شا ته نه کتل بله ډله هم ورپسې روانه وه. داسې برېښېدل چې هر یو د پښنو په ویستو دی. د ښار خلک د یوه تور سېلاب په څېر پر کوڅو او سرکونو سم ول. څوک چابکه او څوک پښنه نیولي روان ول. ښار د غم ورا په سر اخېستی وو او واړه ماشومان لکه نېزه ورې د تور سېلاب د څپو له پاسه اوښتل رااوښتل.

د دروازې ټک ټک مې پام بدل کړ. مخ مې راستون کړ او بیا دروازه د راځه په غږ سره نیمکښه شوه. نور ماشومان ټول په خواړه خوب وېده ول. له ذبیح نه مې غوښتنه وکړه راځه راننوزه، خو همدومره یې وویل:
ـ یوه خبره مې درته کوله په ټینګار مې هغه اړ کړ چې دننه راشي. کوټې ته راننوت پر زړه او ماته څوکۍ کښېناست. ترې و مې پوښتل:
ـ کور ته خیریت وو.
ـ هو دا ساعت خیریت وو؟
نو څرنګه په دې توره خړه کې دلته راغلې؟
ـ هو خیریت، خو زه په تاسې پسې راغلم.
د ذبیح حیرانۍ زه نور هم حیران کړم. د یوې پوښتنې او ځواب په شېبو کې ذهن ډېر لېرې او نژدې ولاړ. حیران شوم چې خدای مه کړه څه ټکه پر چا نه وي رالویدلي او څه بده پېښه نه وي شوې.

د تورې شپې ډزو او دندوکار درزهار او کړنګهار مې له یاده ووتل له نویو پېښو سره مخامخ شوم. د خپل ګاونډي اوترو خبرو زه هم حیران کړم. زمونږ د دواړو په خبرو

محمد اکبر کرګر                    انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومان هم له ځایه راپاڅېدل. ټول په خپلو ځایونو کې په تاو بړستنو کې کښېناستل په وارخطایي مې بیا پوښتنه راغبرگه کړه:
ما مه حیرانوه اصلي خبره وکړه څه مطلب دی؟ خو هغه په نوره وارخطایي بیا هم وویل:
زه له همدې امله مور له خوبه راپاڅولم او پر تا پسې یې راولېږلم چې د خپل کور خوا ته راستون نه شي او له همدغه ځایه دې...
ـزه... ولې؟
مطلب دا چې د ځان چاره دې وکړه او خپلې پښې دې سپکې کړه. د هغه خبرو زه لږ څه حیران کړم او څه بل شان احساس یې راکړ. داسې چې د شکونو جوگه وو. زه یې نور هم اوتر کړم د فکر کولو وس یې راڅخه واخېست.
بیا مې وارونه شو ومې پوښته:
مور دې څه ویل ما ته پوره کیسه وکړه:
ـمور مې راته وویل چې بېگاه شپه څو وارې ټوپک والا راغلي ول. ستا کور ته ورننوتل. دروازه یې په لغتو ووهله او هر څه لوښي کودي یې چپه کړل. بسترې یې وپلټلې او په مور یې ستا د پیدا کولو ټینگار کاوه او دا یې هم ویل چې.....
ـنو څنگه...
ـویلي یې دي باید خپله...
او بیا یې مخ سور واوښته او په قهر یې راته وویل:
ـزه یو څه درته وایم او ته لا تراوسه هم پوه نه یې.
ماشومانو تر دې دمه زموږ خبرې په زېر زېر اورېدې ټول موږ ته او زموږ خبرو ته ځیر ول.

هغه زیاته کړه زه چې راتلم ستا دوه تنه ملگري یې وژلي ول. مړي یې ورته د کور په مخ کې اچولي ول. د هغوی تورسرې او ماشومان یې هم ورته نه پرېښودل او همدا یې تکراروله چې درې باید پوره شي بیا به یې....

زه غلی شوم زموږ ټولې خبرې ماشومانو واورېدې او د ذبیح د خبرو په اورېدو سره ټول په ژړا شول. ټول مې پرځان پورې د مچیو په څېر ونښتل. ټولو په یو ټینگار سره یې دا خبره تکراروله چې پلاره ته ژر له کوره ووځه ژر ولاړ شه....
خو ماشوم زوی مې تر پښو پورې کلک نښتی وو نه یې پرېښودم او په ډېر ټینگار سره یې ویلې لالچ یې کاوه:
ـزه مې پلار نه پرېږدم. نه یې پرېږدم چې له کوره ووځي. پولیسان به یې د دروازې په مخ کې ونیسي. زه یې نه پرېږدم پولیسان به یې بندي کړي، خو په نرمو خبرو مې د لاسا کړ. د گاونډي وړینه خولې مې د سفر د تاج په توگه پر سر کړه چې څوک مې ونه پېژني. غلی له کوره راووتم د ماشومانو پر مخونو اوښکو لارې وکړې. ټولو سکیندې وهلې مخ مې ورستون کړ. همدومره مې ورته وویل: بچو تاسې مه ژاړئ زه سبا ته بېرته راځم. زوی مې تکرار کړه:

محمد اکبر کرگر

انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا ته د شپې راشه چې پولیسان دې ونه نیسي ...
او ما بیا په لاسا ینه وویل:
تاسو مه ژاړئ زه به ارومرو سبا ته راشم او بیا به خپل کور ته ولاړ شو. له دروازې راووتلم په سترو اندامونو مې پلونه واخېستل. د هغوی د اوښکو نېز همداسې بهېده. سترګې يې راته لکې څکې پاتې شوې. اوس دا دی کلونه واوښتل او لا پسې اوري. ډېر سهارونه راخېژي، خو زما د ستنېدو د سباوون څرک هم نه لګېږي. هغه شپه هم بیا راستنه نه شوه چې ورشم او بیا له هغوی سره یوځای خپل کور ته ولاړ شم.

لندن، ۲۳/۱/۱۹۹۹

ګران دوست اصف الم ته،

# درې شیبې

پرون مې د کلي د هاغې غاړې له ژرندې نه داوړه شویو غنمو بوجۍ په شا راپورې ایستله. د شرنده خوړ نه په کرار راپورې وتم. لمدې پایخې له خوړ نه د برې ته راجګ شوم. غنمو په پټیو کې وړې ایستلې ول.

د برې د ګڼو ونو په توتانو کې توره دانه په لګېدو وه. د مرغیو سیلونو په اسمان کې لارې کولې. ویالې ډکې رواني وې، خوړ په شرک بهېده. د برې په مخکې د غوایانو د اخور مورې د بوال ته تکیه شوم. د وړو بوجۍ مې کېښوده او رسۍ مې له ولو نه خلاصه کړه. د دمې جوړولو په هیله بیغ نبغ ودرېدم د تخرګو تریو بوي مې تر سپږ مو شو. لاس مې په ولاړه بوجۍ کېښوده چې چپه نه شي.

د دروازې غرهار مې پام بلې خوا ته واړاوه. شاترینه د نرېدلې کلا له انګړ نه خورې زلفې راووته. د ټټر کوترو يې د الوتو تابیا کوله. لومرۍ يې شرنده خوړ ته پام شو اوبه په شرک بهېدې. تنکۍ غرمه په پخېدو وه. بیا يې ما ته وکتل په لیدو مې حیرانه شوه، شاوخوا ته وکتل. زه هلته د کلا نه اخوا لبرې پاس په وستل کې یو سرې د خپل خره پسې چابک روان وو. بنه ورته ځیر شوه، ډاډه شوه چې هغه پردی لاروی دی او بله خوا درومې. بیا يې د دروازې د درشایي له مورې د پښو په څوکو لاندې کڅ ته وکتل هېڅوک نه برېښېدل ورو راروانه شوه، د مړوند بنګړو يې شرنګا وکړه. په ټیکرې کې يې خپلې خورې زلفې شا ته تاوې کړې. په غلچکې خو ترخه موسکا يې وکتل راته مالومه شوه

محمد اکبر کرګر انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د خپل راتلونکې په باب ډېر څه ویل غواړي. سره لاسونه یې په یوه بهانه راوښوول.
ترې مې وپوښتل: لکه چې کلي کې نورې نکریزې نه وې که څنګه؟
هغې په ترخه موسکا ځواب راکړ: لکه چې ښه بې خبره یې ! ببګا ته زما د واده شپه ده.
لاس نیولې مې ودوي.
حیران شوم، ولې ډولۍ څنګه؟
اسویلی یې وکېښ وی ویل، ما ته ډولۍ او جنازه یو شی دی. زه د خپل قسمت بنده ګۍ
یم... حیران ودرېدم، خو هغې خبره بیا واړوله وی ویل:
که ترې یې چې اوبه درته راوړم. یوه شېبه مو له تندې ډک لیده کاته وکړل. زړه یې نه کېده
چې زما له څنګه لېرې شي. د بوجۍ د رااړولو په بهانه رانژدې شوه، بوجۍ یې شا ته
راواړوله. د لونګو د زونډې خوږ بوی یې زما په حواسو کې لارې وکړې. بوجې یې
راواړوله، ولونه یې راته سم کړل. د ټټر درزا یې ښه په درز اورېدل کېده، خو د پښو په
سکالو هغه ژر زما له څنګه پناه شوه. ما هم ځان د رسۍ په کشولو بوخت کړ: ورو روان
شوم.

اوس له هغه شېبې ډېر کلونه تېر دي. هروخت چې د هغه شېبې په یاد په اسمان کې د
سیلاني کوترو کتار وینم د هغې د احوال پوښتنه کوم، خو هېڅ راته نه وایي. نه خو راته
د هاغه فقیر حسن کیسه کوي او نه هم ما ته د هغه خوږې او رنګینې شېبې غزل اوروي.

شپه تر نیمایي اوښتې وه. زندان لکه تور ښامار تور کومی واز کړی وو. تورګل له لېرې
غرنیو سیمو نه زندان ته راوړل شوی او بندي شوی وو. هغه په خپله توره کمپله ناست د
زندان ټولې پنجرې ترلې وې. پیره دار په درنو ګامونو په دهلېز کې ښکته پورته کېده.
تورګل په یوه ساه د میده بای او میده بای غږ کاوه. دا د پیره دار نوم وو. هغه د کندز
اوسېدونکی وو. یو ساده سرباز (سرتېری/بولندوي) وو، خو لکه چې زړه یې نه درلود
او لکه چې په دې توره شپه کې یې د بندي اواز نه اورېده. لکه چې اسمان هم وېده وو
ځمکه هم ترینګلې وه. د غضب تنور لمبې کولې وچ او لانده یې یو شان سېزل. ټول بندیان
د هغه په زګېرویو راوېښ شول. په خپلو ځایو کې کېښناستل. توکل د کولمو په سخت
درد اخته وو. په بیا بیا یې د پیره دار پیره دار رانژدې شو د کلاشینکوف میله یې ورته
راواړوله. په لاس یې ورته اشاره وکړه یعنې چې غږ دې مه باسه. اجازه نشته همدغلته
ومره بس او چوپ. د بندي اواز غلی شو له ډېره درده یې له ځانه سره سکېندې ووهلې او
بیا یې د بېخودۍ په حال کې خپل ککړ کالي راټول او بېهوشه پرېووت.

ټوله شپه مې سترګې سره ونه نښتې. هک حیران پرېوتم. وېره او ترهه مې په ځان لاسبرې
وه. فکر مې کاوه دا د هغه بندي حال نه دی، بلکې زما خپل حالت دی. زه په خپله یم چې
اوس مې نفس ووځي او زه یم چې شپه راته پېړۍ شوې ده. او دا پېړۍ هم د کوم داسې چا
په لاس حرکت کوي چې غواړي اول زموږ د ټولو ورمېږونه خپه کړي او بیا رانه لېرې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. يو جلاد ، يو قصاب، د انسانانو قصاب، او موږ د قصاب په انګړ سره راټول يو. تر سهاره وېښ پاتې شوم. د بندي تورګل د ککرو کاليو ډک جسد مې خوا ته پروت وو ترې وېرېدم. کله کله به مې ناڅاپه ياد ته راغی چې ژوندی ولاړ دی راته خاندي.

لنډ کالي جګې پايڅې، سپلو ډوډۍ يې په لاس کې ده ترخو چايو پياله يې په بل لاس کې نيولې او بوره غواړي او بيا په کټ کټ خاندي. په خپل ځای ناست دی. زړه يې د يو بې وطنه مساپر په څېر تنګ دی. له خدايه مرسته غواړي چې ژر يې سر په کڅوړه شي. د حقير ژوندانه سوغات بېرته خپل مالک ته ورکول غواړي او ځي نيمګړی ارمان يې پوره کېږي، نو روح يې د زندان په تنګو کوټو کې الوځي. په دهلېزونو کې پرواز کوي او ځي. بيا ما ته رانژدې شي په کټ کټ خاندي. همدومره وايي: اوس نو پرېوځي خوشاله اوسئ چې ژوندي ياست. ما خپل پور پرې کړ. «زه نور د چا پروا نه لرم ما ته اوس د هېچا پروا نه راځي نور څوک پر ما څه نه شي کولی» او بيا په دې ډول شپه سبا ته ورنږدې شوې وه.

خو اوس کيسه د پرون ده. پر تور سرک پلی روان وم. تور سرک د تورو سمټي کورونو په مينځ کې لکه تور ښامار په ټټر خوېږده. شاوخوا مې وکتل د خپل تېر ماضي ټولې ترخې او رنګينې شېبې کې په يوه درنګ له نظره تېرې شوې، شاوخوا مې وکتل يوازېوالی او بېوزلي.

پخواني ياران يو هم نه ول. نه هغه ورانه کنډواله کلا. نه هغه شړنده خوړونه او رڼې اوبه او نه هغه خورې زلفې او ترخه خندا. فکر مې وکړ لکه چې زما د ژوندانه ټوله کيسه د سترګو په رپ کې تېره شوه او بيا مې د شنو غنمو او ببرو پولو دره ياد ته راغله لکه چې هلته هم څوک نه وو. په هديرو ورسم شوم. ټولې د يتيم د شلېدلي ګرېوانه په څېر خورې ورې پرتې وې. د دېرو ونې وچې شوې وې. کلاګانې نړېدلې او دېوالونه يې پر ببخ ناست ول. او بيا مې هماغه له هيبت او دهشت نه ډک زندان ياد ته راغی، شاوخوا مې ونه ليدل. د سپاهي هيبتناکه غږ هم نه اورېدل کېده، خو د تورګل بندي اواز مې تل په غوږونو کې جرنګېده او بيا په همدې سوچونو کې ناڅاپه د يوه سړي سره مخامخ شوم. مخ په مخ ورسره ودرېدم. همدومره پوه شوم چې وی ويل: کريزي يې (ليونی يې) او بيا د خپل ژوندانه له وروستي متاع يعنې....

لندن، ۱۰/۳/۱۹۹۹



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه پانسي (په دار) شو!

سهار چې د چاپ په کارخانه (چاپخونه) ورننوتم، نو سملاسي راته ډګروال بيدار چې د انګړ له دروازې ګوښې ولاړ وو په سترګو کې اشارت وکړ. هدف يې دا وو چې ور نژدې شم او څه راته ووايي. زه هم چې د سربازۍ (سرتېرۍ) په کاليو کې وم ور نژدې شوم. د مامور په خبر مې درناوی وکړ، خو هغه همدومره راته وويل:
بېګاه بيا يو لوی د بګ پوخ شو او کور ته يې واستول شو. زه هم د واره په خبره پوه شوم. د هغه مطلب لوی آمر وو چې د لويو څوکيو د ترلاسه کولو لپاره يې مېلمستياوو ته ښه زور ورکړی وو او لګښت يې هم د کارخانې له جيبه کاوه.
هغه په داسې انداز دا خبره وکړه چې ګواکې نوموړی هره ورځ دا کارونه کوي او بيت المال د هغه د ساعت تېرېو وسيله ده. ما يوازې ورسره د تاييد سر وخوځاوه. همدومره مې وويل: زه پوه شوم.

خو زه په دې خبره لا له مخه پوه وم چې نوموړی د خپل لوی آمر سره په ډېره سخته سره جګړه بوخت دی او د دواړو پوره وخت په دې خبرو تېرېږي چې څه رنګ يو بل ته کوهی وکيني او يو بل له پښو راونيسي او را وی پرزوي؟

کارخانې له عمومي سړک څخه د ننوتلو لپاره دوه دروازې درلودې چې يوه لويه او بله کوچنۍ وه. لويه دروازه به هروخت تړلې وه. يوازې د خرڅ د لارۍ او د آمرصيب د ګاډي د راتلو په موقع به پيره دار بېرته کوله او بيا به بېرته ډېره ژر تړل کېدله. له دروازې نه په ننوتلو سره به د سړي سترګې ډېرې ژر په مخامخ دفتر لګېدلې. هلته چې به يو کنډوکپر مخ افسر پکې ناست او ننوتونکي او وتونکي دواړه به يې په ډېر ځير څارل. هغه د مرکزي دايرې دفتر وو چې د ننوتلو دروازو ته مخامخ واقع وو.

پخپله لوی آمرصيب په دويم پوړ کې کښېناسته. هغه ښه مجلل او شاندار دفتر درلود. له لومړي منزل نه ورته يوه ښه ارته او سوره وره زينه ورختلې وه. دفتر ښه مجلل او شانداره وو، خو د مامور پرخلاف يوازې آمرصيب پکې نه کښېناست، بلکې آمرصيب يو سکرتر ګوټی هم له ځانه سره په خونه کې کښېنولی وو چې هغه يو عادي سرباز (سرتېری) وو. داسې سرباز چې له پيرې او ګزمې خبر نه وو، بلکې هغه د چا خبره چې د خپلې تورې له برېښ يا په بله مانا د خپل قلم له څوکې يې هر څه خوړل. هغه د معمول پرخلاف د آمرصيب په دفتر کې کار کاوه.

محمد اکبر کرګر — انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرباز (سرتېری) چې قد يې نسبتاً ټيټ او لږ څه هډور بربښېده، د سر وېښتان يې د تندي له خوا مخ په کمېدو وو. هغه ډېر ارام او د چا خبره د سړې سينې خاوند وو – سرباز هغه څه کولی شول چې نورو نه شول کولی او ان لوی آمرصيب هم د هغه لاس ته ناست وو.

اوس له هغه دورانه پوره زيات کلونه تېر دي، خو چې کله زما دنده په هغه لوی انګړ کې پای ته ورسېده او هره ورځ يا هره اونۍ يا کله ناکله به زه له هغې لارې تېرېدم، نو سم د واره به راته ډګروال بيدار د هغه مړې مړې خبرې، د انګړ په مينځ کې پيښې او زما د ذهن يو بوړنوونکې کيسه را تداعي کېده. د وجود خوله مې يخه په ځان احساس کړه وېرې او ترهې به واخېستم. زما دا وېرې او ترهې تر ډېر کلونو دوام وکړ، خو يوازې هغه وخت له دغې وېرې زما ولي سپک شول چې کله د اصلي کيسې په پای وپوهېدم.

خو اوس مې د آمرصيب خبره کوله.
د لوی آمرصيب چالاکي او زرنګي هم د شيطان له پوهې لوړه وه، نو ځکه خو يې سمندر ته چې د نورو سربازانو (سرتېرو) په څېر يو عادي سرباز (سرتېری) وو په خپل دفتر کې ځای ورکړی وو. هره ورځ يې نازاوه. دی يوازې سرباز (سرتېری) نه، بلکې هغه مجسمه ساز ته ورته وو چې ډبرې او خټې يې په مخ کې ډېرې کړې او له هغو مجسمه جوړوي. آمرصيب هم ورته درناوی درلود او بايد يې لرلی وای. دا ځکه چې هغه ورځ د آمرصيب شخصيت ته خاص پالش ورکاوه او هغه يې برسېره پر دې چې په لوړ پوړو دولتي کار کوونکيو کې يکه تاز ځلېده، دغه راز يې هڅه کوله چې په لويو فرهنګي مجالسو او غونډو کې هم د يوه عالم او فاضل شخصيت په توګه وپېژندل شي – نو ځکه خو سمندر ته خدای ورکړې وه – خولې يې د چا خبره په غوړو کې وه او د دې کار له برکته نه يوازې د پيرې او ګزمې نه بېغمه وو، بلکې د بهرنيو ملکونو له سفرونو هم بې برخې نه وو.

د سمندر يو کار خو دا وو چې ډېرو مهمو اخبارونو او مجلو ته به يې مقالې ليکلې، خو د مقالې په تندي به د آمرصيب نوم کښل کېده. ځکه چې آمرصيب اړ وو چې له هغه نه پورته لويان په دې خبره وپوهوي چې آمر ته د هغه د علميت او فضيلت په مقياس اوسنی پوسټ ډېر کوچنی او د هغه په حق کې د چا خبره جفا ده.
خو بلې خوا ته نور سرابازان (سرتيري) هم په دغه انګړ کې کښته پورته کېدل چې په هېڅ شان يې د سمندر نه ښه نه ايسېدل. د چاپخونې او د ادارې د مقرراتو له مخې به هر سهار سرتېري په يو لين (کتار) د ټولي د مشر د امر د پرځای کولو او د هغه د کتنې او رپوټ د بشپړولو لپاره په يو لين (کتار) تيارسي درېدل. او کله چې به د ټولي مشر راڅرګند شو، نو سم د واره به ټولو سرتېرو حق په جانب څېره غوره کړه او غلي به ودرېدل. قوماندان به د لين (کتار) مخې ته ځوروني سبب شي چې ډېره موده يې ارام ته پرې نه ښودم او تل به له ځان سره په ژوره شخړه اخته وم.

محمد اکبر کرګر                    انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولي قومندان چې په ونه منځنی او ښه هډور او د منځني عمر سړی وو هڅه به يې کوله چې په خپلو جدي خبرو خپل رعب او وېره زموږ په زړو کې کښېنوي، خو دا کار لږ ناشونی وو. هغه به د لين (کتار) پر سر غږ کړ:
«هلکو سم ودرېږئ تيار سي شئ ! خبرې وانه ورم.»

او بيا به يې د يو نيم سرباز (سرتېري) د رسېدلو وبښتانو، برېتو او موذو پوري خبرې پيل کړې او پوره نيم ساعت به يې د سربازانو (سرتېرو) په اصطلاح «ملوکانه ارشادات» پُف کړل.

د لين (کتار) پر سر د قومندان د خبرو په جريان کې به ورو ګونګوسې پيل شو. نيامت (نعمت) چې کلونه کلونه زما د اندېښنو او ذهني ځورونو لامل وو، ورو به يې د استاد سيفو دا سندره په داسې انداز زمزمه کوله چې ان شونډې به يې رپېدې، ويل به يې:
«ليلا غوتی جان غم نه داری»
او يارمامد به ورسره سم د واره سر راتاو کړ چې:
«غير از رنگ زلف ديگه کار نداری.»

لين (کتار) به له يوه سره تر بله له خندا ډک شو. خو قوماندان به له خپلې بزرګوارۍ (!) نه کار اخېسته او ځان به يې په ناګارو کې واچاوه. خو چې حوصله به يې ختمه شوه، نو سم د واره به يې په پټکو پيل وکړ.

هلکو ! لکه چې نه سرې کېږئ؟ قسم مې دې په رب وي چې د اس سره به مو په يوه اخور وتړم.
اقا به ورو وويل: «اس خوب است خدا ما را از خر نجات بته.»

دغه اشاره به (خان) به د دې کنايې (اشارې) په اورېدو سره بيا سور سپين شو او په توره مښوکه به يې وويل:
«او مرده... ادم نه شدی؟ مه کتی تو کار دارم.»

خبره دا وه چې هغه زموږ په ټولي کې په خر مشهور وو، او په لاره به هم چې چا خر وليده او دی به هم روان وو، نو روان ملګري به اول څاروي او بيا ده ته په کتلو سره دا افاده ورکوله چې ګوندې انډيوال دې ګوره ! او بيا به د هغه په اکر کې بدلون راته، خو دا مهال به د قوماندان پټکو هر څه غلي کړل. او نيامت به غاړه صافه کړه، غلی او حق په جانب به ودرېد. يارمامد به هم ورسره ودرېد. څه به يې ونه ويل، خو چې د قوماندان مخ به بلې خوا ته شو، نو بيا به يې زمزمه کړه:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

الا شا کوکو جان، سرت شال بند ازم
الا شا کوکو جان، هر روز نه که دریشی
الا خوبش استی ازی بهتر نمیشی
او د دې سندرې سره به بیا د سربازانو سکوت مات شو ...
بیا به سملاسي په لین کې خندا غزونې وکړې او د قومندان رنګ به هم لکه سور الوان وتښتېد.

په لین (کتار) کې به د آمرصیب د دفتر سرباز هم کله ناکله ودرېده. کله ناکله ځکه وایم چې هغه هره ورځ دې لین (کتار) ته نه راتلو، بلکې هغه په یو مهم کار بوخت وو. د چا خبره چې هغه د شخصیت د هستولو په کار بوخت وو. نو ځکه خو کله چې د لین (کتار) سر ته د موجوده ګۍ لپاره راغی، نو سملاسي به پرې د ټوکو او ملنډو باران پیل شو.

دې کار دوه وجهې درلودې: یو خو دا وه چې په ګرم او نرم دفتر کې د هغه پاتې کېدلو او کار کولو د ټولو سربازانو (سرتېرو) کرکه راپارولې وه. نه یوازې سربازانو، بلکې ډګروال بیدار خو به ورته غابنونه چیچل او ویل به یې: «ده ته ګوره ټوله ورځ ورته لیکنې کوي او هغه یې په خپل نوم چاپوي. زه یې قوماندان نه یم چې د پورتاتیف په خېمه کې یې څو ورځې وساتم چې پوه شي چې یوه ډوډۍ څو پتیرې کېږي.»

او بله وجه دا وه چې سمندر ډېر د سړو مغزو خاوند وو، هېڅ قهر (غوسه) یې نه درلود. ښه مې په یاد دي چې په یوه محفل کې چا په څپېړه وواهه نو موړي ورته همدومره وویل: «بچیم کار خوب نه کدی!»

همدا سبب وو چې نورو سربازانو به له هغه انتقام اخېست او کله به چې په لین (کتار) کې ودرېد، نو د ځورونو او فشارونو تر قمچینې لاندې به یې ستمي ویستل. چا به آمر باله، چا به رئیس او چا به د آمر پنسل پاک ... همدا سبب وو چې کله به ډېر اړ نه شو، نو لین (کتار) ته به له خپل دفتر نه نه راکوزېده.

زموږ د سربازۍ (سرتېرۍ) دوره نیمایي ته ورنژدې کېده. شپې او ورځې په ګړندي بدلون سره بدلېدلې. اصلي کیسه دا وه چې یوه ورځ کله چې له بهر نه د کارخانې په انګړ ورننوتلم، نو نیامت راته په انتظار ولاړ وو. پرتله او ماشیندار یې څنګ ته پراته ول. ذره بیني عینکې یې پر سترګو وې د تل په څېر یې خوله له خندا ډکه وه. وی ویل ډېر ښه وخت راغلې.
ما ویل: خیریت خو دی؟
هغه وویل خیریت دی. له تا سره مې یو کار وو.

محمد اکبر کرګر                                        انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له روغبړ نه یې وروسته زما لاس ټینګ ونیو او یوې خوا ته یې کش کړم. ورو یې راته وویل: یو څه مې په کار دي چې زه نه پوهېږم ته یې پیدا کولی شې ډېره سخته اړه ورته لرم. یا به له تا سره وي اومرو یې راته پیدا کړه. ما ترې پوښتنه وکړه.

هغه وویل مرمۍ ... مرمۍ مې په کار دي. څو دانې مرمۍ مې په کار دي؟
نیامت زما د پوهنتون د دورې دوست وو. په یو پوهنځي کې مو سبق لوست. هغه په ونه جګ او نرى او ډنګر هډوکن تن درلود. تل به یې سترګې په سترګو اېښې وې. زیات وخت به یې کتاب په لاس کې وو. په خبرو کې ارام او صبرناک سړی وو، شمېرلې خبرې به یې کولې – د کتابونو راکړه ورکړه به مو درلوده او په کتابتون کې به مو هروخت لیدل. لنډه دا چې زما او د هغه پېژندګلوي یوازې د سربازانو (سرتېرو) د لین (کتار) پورې اړونده نه وه.

خو هغه مهال چې ما هرڅه ټینګار وکړ نوموړي راته سم حال ونه وایه. همدومره یې وویل له ما نه په پیره کې ورکې شوې دي. قوماندان یې رانه غواړي را سره مرسته وکړه. جزایې کوي مې. ما ورسره ومنله او ورته مې وویل سبا ته به یې درته راوړم. خو وروسته وپوهېدم چې هغه راته بهانه کړې وه. سهار چې بیا کارخانې ته ورننوتلم. نیامت د پرون په څېر زما لار څارله. یو وار بیا په خندا شو، وې ویل:
خدای دې وکړي چې زما سره د مرستې په ثواب کې شریک شې!
ورته مې وویل: غم مه کوه.
له لاسه یې ونیولم یوې ګوښې ته ولاړو. د خپلې تفنګچې مرمۍ مې ورکړې. مننه یې وکړه او بیا له ما جلا شو. له هغه نه په ګوښه کېدو سره مې زړه ډوب ډوب وکړ. حواسو مې بل شان ګواهي ورکوله او له هغه ورځې وروسته مې بیا نیامت هم په سترګو ونه لید.

نیامت ورک شو او بیا یې چا نوم هم په خوله وانه خیست. په سربازانو (سرتېرو) کې ګونګوسې وو له هماغې شېبې زما د ژورو د اندېښنو لړۍ پیل شوه. «نیات وتېنتېد».
چا به ویل نیامت خدمتي ولاړ او چا بل څه؟ خو څومره چې نیامت د نورو له اذهانو لیرې کېده دومره یې زه ځورولم. هغه شېبه – د ګوښه کېدو شېبه. د مرمیو ورکړه. مننه او بس ترې تم کېدل.
میاشتې میاشتې زموږ د سربازانو (سرتېرو) لینونه (کتارونه) هماغه شان جوړېدل – خنداوې پکې کېدلې، ټوکې پکې کېدلې – او دغه راز ملنډې پکې وهل کېدلې. منځ قدی او چاغ چمنډ قوماندان هم هماغه شان خپلې پټه کې جاري ساتلې او موږ په پوره زغم اورېدې. خو بیا د لین (کتار) پر سر چا د لیلا غوټۍ جان سندره د ملنډو لپاره زمزمه نه کړه او نه خو نیامت وو چې په قطار کې ولاړ سربازان (سرتېري) وخندوي. نیامت ورو ورو د ټولو له ذهنه ووت. ټولو هېر اوه، خو کله چې به زه د کارخانې په دروازه راننوتم سم د واره به مې مخ ته ودرېد او له هغه سره د روغبړ وروستۍ شېبه به بیا



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتداعي شوه او ترځو چې ببرته له هغه ځایه تللم او په بل کار به بوختېدلم زه به یې ځورولم.

د نیامت له تري تم کېدو نه میاشتې میاشتې تېرې شوی د هغه هېڅ پته ونه لګېده. هغه تری تم شو. بیا په پیره کې ونه لیدل شو – اوړی تېر شو منی راغی یخنې په زیاتېدو شوه. د ټولي ترخیصونه پیل شول مورږ هر یو ترخیص تر ګوتو کړ – نیامت بیا هم ونه لیدل شو. هغه تری تم وو. خان هم ترخیص تر ګوتو کړ – چکچکې پرې وشوې، هرکلی یې وشو، مبارکي ورکړل شوه او ځېنو کینایي هم وویلې – سمندر هم له تقدیرنامې سره یوځای ترخیص واخېست. ټولو په یو اواز وویل: نوش جان ( ! ) مبارک ( ! ) فتح وظفر مبارک ( ! )
دوه کاله وروسته کله چې په یوه دولتي اداره کې په خپل کار بوخت وم. ډېرې نوې خبرې مې ذهن ته راتللې – تېرې یادونې مې ورو ورو له ذهنه وتلې او د هغو ځای نویو نیوه، خو د نیامت وروستی روغبړ به چې کله په ذهن راغبرګ شو د واره به یې ټکان راکړ. د سربازۍ د دوران نورې کیسې مې په ذهن کې نه وې. سمندر مې هم نه لیده. خان هم په څه کار اخته وو. چاغ چمنډ قومندان او د هغه پټه کی مې ورو ورو له ذهن نه وتلې. د ډګروال بیدار خبرې او لوڅونې هم دومره زما یاد ته نه راتللې. یوازې دومره پوهېدلم چې لوی آمرصیب ښه پرمختګ کړی وو او د نویو پوستونو د ترلاسه کولو لپاره یې اشتها نوره هم زیاته شوې وه.
ما هم په یو دفتر کې کارکاوه او د مامور په څېر به دفتر ته ورتللم – یوه ورځ چې د سهار له خوا لږ ناوخته دفتر ته ورغلم ډېرې انجونې زما د دفتر له همکارې راتاوې وې. هغې ته یې تسلیت ورکاوه.
لومړی مې څه ونه ویل، خو اند ېښنه مې زیاته شوه او د چوپتیا پوښتنه مې وکړه:
نسرین وویل مورږ دوعا کوله. شکېلا ته مو دوعا وکړه.
زه حیران شوم. د څه دوعا؟ پوښتنه مې وکړه:
شکېلا په ژړغوني اواز وویل: دوی ستا د ملګري فاتحه راکوله. زه هک حیران شوم. کوم ملګری؟
هغې وویل: د نیامت فاتحه.
زه ټکنی شوم او سره له دې چې ژبه مې ګونګه کېدله بیا مې وپوښتله: کوم نیامت؟
هغې بیا په ژړا وویل: هغه چې له تا سره یوځای سرتېری وو. هروخت به یې ستا کیسې مورږ ته کولې.
زه حیران پاتې شوم – تا خو ما ته ویلي وو چې هغه تښتېدلی دی.
نه ! هغه نه وو تښتېدلی – هغه همداسې ویلي ول چې تا ته همدومره ووایم.
نو هغه کله ومړ؟
هغې وویل: هغه ونه مړ، هغه پانسي شو ... د پردیو د وژنې په جُرم پانسي شو او مور مې د هغه مړی هم ونه لید.

لندن،

محمد اکبر کرګر                انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال نور اثار

لنډې کیسې:
۱. شپېې چاپ کال ۱۳۶۳
۲. سینده څه سینده بهېږه ۱۳۶۶
۳. د زمانو سندره ۱۳۷۰
۴. کله چې ماشومان سندره وایي ۱۹۹۸
۵. انځورونه که هېنداره (همدا اثر) ۲۰۰۷

څېړنیز اثار:
۶. غني د شگو په محل کې ۱۳۶۵
۷. څو ادبي یادونې ۱۳۶۶
۸. په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېره ۱۳۶۹ دویم چاپ ۲۰۰۷ م
۹. ادبیات او د انسان د ننني نړۍ ۲۰۰۵
۱۰. لویه جرگه او لویې پریکړې ۲۰۰۳

ژباړنې
۱۱. ترورېزم او جگړه له انگلیسي ژبې ۲۰۰۴
۱۲. استېتیک مقولې له فارسي څخه ۱۳۶۵
۱۳. یو شمېر څېړنیزې ادبي، فلسفي مقالې
۱۴. د افغانستان د جمهوریت فرهنگي پالیسي ) له مهدي دعاگوی او استاد الهام سره گډ کار) ۱۳۶۹-۱۳۷۰

محمد اکبر کرگر

انځورونه که هېنداره

Downloaded from: www.ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library